# رسول الله ﷺ وفرمایل

لیکوال: مولانا وحیدالدین خان
ژباړه: رحمت شاه فراز

کابل؛ ۱۴۰۴ل

Ketabton.com

(c) ketabton.com: The Digital Library

## کتاب پېژندنه:

کتاب: رسول اللهﷺ وفرمایل

لیکوال: مولانا وحیدالدین خان

ژباړه: رحمت شاه فراز

ډیزاین: محمدافضل ذاکر

پاڼو شمېر: ۱۲٤ مخه

چاپلړ: لومړی، ۱۴۰۴ل

چاپشمېر: ۱۰۰۰ ټوکه

(c) ketabton.com: The Digital Library

بسم الله الرحمن الرحیم

(c) ketabton.com: The Digital Library

(c) ketabton.com: The Digital Library

# لړ لیک


۰۰۱- د علم ارزښت .................................... ۱
۰۰۲- علم ترلاسه کړئ .................................... ۲
۰۰۳- د زدکړې مزاج .................................... ۳
۰۰۴- د علم خزانه .................................... ۵
۰۰۵- د علم ترلاسی.................................... ٦
۰۰٦- د علم ډالی.................................... ۷
۰۰۷- د علم لوړاوی .................................... ۸
۰۰۸- د علم خوندیتوب .................................... ۹
۰۰۹- علم د علم لپاره .................................... ۱۱
۰۱۰- بې ګټې علم.................................... ۱۲

(c) ketabton.com: The Digital Library




۰۱۱- وده کوونکی شخصیت ........................ ۱۲
۰۱۲- له پوهېدونکي پوښتنه کول.................... ۱۳
۰۱۳- د خدای په نعمتونو کې غور او فکر ............ ۱٤
۰۱۴- غور او فکر ................................ ۱۵
۰۱۵- علمي خاکساري ............................ ۱٦
۰۱٦- تعلیم او تربیه.............................. ۱۷
۰۱۷- علم او سنجیدگي ........................... ۱۸
۰۱۸- د علم زیاتوالی.............................. ۲۰
۰۱۹- بې ځایه پلمه .............................. ۲۱
۰۲۰- له زړه نه پوښتنه کول........................ ۲۲
۰۲۱- د حکمت خبره ............................. ۲۲
۰۲۲- بلند همتي ................................ ۲۳
۰۲۳- تلپاتې عمل................................ ۲٤
۰۲۴- د زمانې پوهه .............................. ۲۵
۰۲۵- باهدفه ژوند................................ ۲٦
۰۲٦- گټه رسونه ................................ ۲۷
۰۲۷- په چوپتیا کې خلاصون........................ ۲۹
۰۲۸- دوه ببلې ځانگړنې .......................... ۳۰

(c) ketabton.com: The Digital Library



۰۲۹- په صبر سره بریا........................۳۲
۰۳۰- له ډغرو وهلو ډډه کول........................۳۲
۰۳۱- له ځانه تېښت ته وګورئ........................۳۳
۰۳۲- روانه زمانه ........................۳٤
۰۳۳- ناهیلي نه........................۳٦
۰۳۴- غوره اخلاق........................۳۷
۰۳۵- بې نفسه انسان ........................۳۸
۰۳٦- بدی له منځه وړل........................۳۹
۰۳۷- ګناه څه ده؟ ........................٤۰
۰۳۸- د ګاونډي حق ........................٤۱
۰۳۹- په کوچنیانو شفقت او د لویانو درناوی ........................٤۲
۰۴۰- په ژمنه درېدل ........................٤۳
۰۴۱- د احسان بدله........................٤٤
۰۴۲- د نورو په غم نه خوشالېدل........................٤٥
۰۴۳- ښه ګمان ساتل........................٤٦
۰۴۴- احسان منل........................٤۷
۰۴۵- له تېروتنې وروسته پښېماني........................٤۹
۰۴٦- د وجدان غږ ........................٥۰

(c) ketabton.com: The Digital Library



۰۴۷- امانتونه سم وسپارئ........................... ۵۱
۰۴۸- سوله ییز کلچر........................... ۵۲
۰۴۹- سوله ییز ذهنیت........................... ۵۳
۰۵۰- سوله ییز ښاري........................... ٥٤
۰۵۱- له زیانه ځان وژغورئ........................... ٥٦
۰۵۲- ډېر لوی ځواک........................... ٥٧
۰۵۳- سوله بهتره ده........................... ٥٨
۰۵۴- ټولنیز خدمت........................... ٥٩
۰۵۵- ټول انسانان یو دي........................... ٦٠
۰٥٦- د مشورې ارزښت........................... ٦١
۰۵۷- خبرې بندول نشته........................... ٦٣
۰۵۸- له منلو مخکې پلټنه........................... ٦٤
۰۵۹- ټول انسانان ورونه، وروڼه........................... ٦٥
۰٦٠- درې حرام شیان........................... ٦٦
۰٦١- هر کس مسؤل دی........................... ٦٧
۰٦٢- له هر یوه سره مرسته........................... ٦٨
۰٦٣- نرمه رویه........................... ٦٩
۰٦۴- د رحم فورمول........................... ٧٠

(c) ketabton.com: The Digital Library



۰٦٥- خپلمنځي درناوی........................... ۷۲
۰٦٦- مذهبي درناوی ............................ ۷۳
۰٦۷- په دښمن کې ملګری........................ ۷٤
۰٦۸- له نرمي نه بې برخې ........................ ۷٥
۰٦۹- د ساده‌ګي اهمیت........................... ۷٦
۰۷۰- د پاکوالي ارزښت.......................... ۷۷
۰۷۱- د منځ لاره ................................ ۷۸
۰۷۲- په عاجزي کې بلندي ........................ ۷۹
۰۷۳- بې ځایه لګښت نه.......................... ۸۱
۰۷۴- اجتماعي برکت ............................ ۸۲
۰۷٥- د انصاف تقاضا ........................... ۸۳
۰۷٦- له حق نه زیات نه اخیستل.................. ۸٤
۰۷۷- د نورو لپاره هم د ځان په څېر ................ ۸٥
۰۷۸- اقتصادي خپلواکي ......................... ۸٦
۰۷۹- رزق د خدای له لوري........................ ۸۸
۰۸۰- قناعت...................................... ۸۹
۰۸۱- سوال نه کول ............................... ۹۰
۰۸۲- د تجارت لویه برخه .......................... ۹۲

(c) ketabton.com: The Digital Library




۰۸۳- د زحمت مړی.......................... ۹۳
۰۸۴- په ژبې بندیز .......................... ۹٤
۰۸۵- د غیبت کفاره .......................... ۹۵
۰۸٦- جامع نصیحت .......................... ۹۵
۰۸۷- صبر او اعراض.......................... ۹۷
۰۸۸- یو طرفه زغم.......................... ۹۸
۰۸۹- د مخ گرځولو تگلاره .......................... ۹۹
۰۹۰- په صبر کې بریا .......................... ۱۰۰
۰۹۱- په واړه شر قناعت .......................... ۱۰۱
۰۹۲- د زغم په مټ دفاع .......................... ۱۰۲
۰۹۳- غوسه نه.......................... ۱۰۳
۰۹۴- د غوسې حل لاره .......................... ۱۰٤
۰۹۵- له شیطان نه پناه وغواړئ.......................... ۱۰٦
۰۹٦- زورور څوک.......................... ۱۰۷
۰۹۷- په سختي کې اساني .......................... ۱۰۷
۰۹۸- د اسانې لارې انتخاب.......................... ۱۰۹
۰۹۹- په ناخوښو کې خیر .......................... ۱۱۰
۱۰۰ یوه دعا.......................... ۱۱۲

(c) ketabton.com: The Digital Library

## ۰۰۱- د علم ارزښت

د اسلام پیغمبرﷺ په ۵۷۰ز کې د عربو په مکې ښار کې نړۍ ته راغی. په ۶۱۰ز کې يې چې عمر څلوېښت کاله شو، نو الله تعالی نبوت ورپېرزو کړ. د خدای له لوري لومړنۍ وحي دا وه، چې «ولوله! د خپل هغه رب په نامه چې پيدا يې کړ. د ويني له ټوټې يې انسان پيدا کړ. ولوله! او ستا رب ډېر مهربان دی. هغه چې په قلم سره يې ښوونه وکړه.» (العلق)

حقيقت دا دی، چې علم د ټولو انساني پرمختګونو د پيل ټکی دی. الله تعالی انسان له ظاهري پلوه د حيوان په بڼه پيدا کړی دی. خو انسان ته يې يوه ځانګړې وړتيا وربښلې او

(c) ketabton.com: The Digital Library



هغه د انسان ذهن دی. انساني ذهن ته بې اندازې غیرعادي وړتیا ورکول شوې ده. د دې وړتیا راژوندي کول علم او پوهه غواړي. د علم په مټ انساني ذهن وده مومي او ورو په ورو اعلی درجو ته لوړېږي.

د علم په مرسته انسان د تاریخ پوهه ترلاسه کوي. د فطرت رازونو ته لاره مومي. د شیانو له ظاهر نه تېرېږي او حقیقت ته یې رسېږي. د علم دا ارزښت د یوه انسان لپاره هم همدومره مهم دی څومره چې د بل انسان لپاره د اهمیت وړ دی.



## ۰۰۲- علم ترلاسه کړئ

نبي کریمﷺ وفرمایل: «د علم ترلاسی په هر مسلمان سړي او مسلمانې ښځې فرض دی» دا حدیث په اسلام کې د علم ارزښت راښیي. د خدای معرفت ته له علم پرته نه شو رسېدلی. د همدې لپاره د علم ترلاسی فرض ښودل شوی دی. علم د انسان شعور ته وده ورکوي. علم د انسان د ذهن

(c) ketabton.com: The Digital Library



دریڅې پرانیزي. له علم سره د فکر دایره پراختیا مومي. د علم په مټ انسان په ژورو حقایقو د پوهېدو وړتیا ترلاسه کوي او د نورو انسانانو د تجربو په اوړو خپل ذهني معیار لوړولی شي.

د مذهبي او روحاني ارتقاء لپاره علم د لزوم تر بریده ضروري دی. له علم سره د انسان ذهن پوخوالی مومي. د علم په مټ د فکري ارتقاء بهیر پیلېږي. له پوهې پرته نه انسان مقدس کتابونه لوستلی شي او نه د تاریخ او کایناتو په اړه خبرېدلی شي. پوهه انسان له حیواني پوړۍ راپورته کوي او انساني پوړۍ ته یې رسوي.



## ۰۰۳- د زدکړې مزاج

د دوهم خلیفه حضرت عمر رضي الله عنه په اړه ویل کېږي چې ده به چې له هر چا سره ولیدل، نو یو نه یو څه به یې ترې زده کول. په بله ژبه به وواېو چې په عمر رضي الله عنه کې به د زدکړې بهیر

(c) ketabton.com: The Digital Library



(learning process) تل فعال و.

دا کار کله کېږي؟ هله کېږي، چې انسان له چا سره مخ کېږي، نو په پرانيستي ذهن ورسره ووينې. هغه ته د ښوونې په ځای له هغه نه د زدکړې کوشش وکړي. د زدکړې د دې بهير د ګټور جريان لپاره پکار ده چې انسان متعصب فکر ونه لري او د لويي احساس ورسره نه وي. د انسان مزاج دا وي، چې هر څه چې مخې ته راځي، سمدستي به غبږه ورکوم؛ چې کله زما تېروتنه راپه ګوته شي، نو سمدستي به د خپلې تېروتنې اعتراف کوم او سمون ته به يې متې رانغاړم.



د زدکړې د بهير په ګټور کولو کې به د ښوونکي نقش هم مهم وي، خو له هغه نه ډېر لاس په کې د زده کوونکي دی. په زده کوونکي کې چې سم مزاج څومره زيات وي، هماغومره به له نورو نه ترلاسی ورته اسانه وي. په دنيا کې هره شېبه د علم او عرفان باران ورېږي. يوازنی شرط دا دی، چې له انسان سره يې د ترلاسي ظرف موجود وي.

(c) ketabton.com: The Digital Library



## ۰۰۴- د علم خزانه

د اسلام پیغمبرﷺ وفرمایل: «پوهه د مؤمن ورکه ده، هر چیرې یې چې ومونده‌له، د مؤمن ده.» دا حدیث د علم افاقیت په ډاګه کوي. د دې معنا دا ده، چې پوهه چې هر چیرته او له هر چا سره وي، په یو شان د ټولو انسانانو برخه ده.

علم مشترکه خزانه ده. علم د چا اجاره نه ده، علم له هر ډول تعصباتو نه لوړ دی. علم د لمر په شان دی. د لمر په رڼا کې چې څومره حق د یوه انسان دی، هماغومره حق د بل انسان هم دی.

د علم په تړاو د افاقیت دغه تصور ډېر اړین دی. له دې تصور پرته د علم پرمختګ ناشونی دی. د علم خزانه دومره پراخه ده چې هر څومره ترې ولګول شي، بیا هم کمی په کې نه راځي. علم یو داسې ناپایه سمندر دی، چې د هر تږي تنده ورماتوي. خو خپله زېرمه یې بیا هم هماغومره پاتې

(c) ketabton.com: The Digital Library



وي، څومره چې پخوا وه.

## ۰۰۵- د علم ترلاسی

نبي کریم ﷺ وفرمایل: «علم ترلاسه کړئ ان که په چین کې هم وي» دا حدیث راته ښیي، چې د علم په ترلاسي کې باید هیڅ ډول تعصب او پلمه هم خنډ نه شي.

په پخوا زمانو کې د چین سفر له ستونزو ډک سفر ګڼل کېده. د همدې لپاره ویل شوي چې علم ترلاسه کړئ ان که په چین کې هم وي. دا په دې معنا ده، چې هر ډول ستونزې وزغمئ او علم ترلاسه کړئ، یوه شي ته هم په دې کار کې د خنډ په سترګه مه ګورئ. له علم پرته انسان د خامې اوسپنې غوندې دی. دا علم دی چې له انسان نه فولاد جوړوي. د ژوند په ساده خبرو انسان بې علمه هم پوهېدلی شي. خو د ژوند ژورو ته کوزېدل له علم پرته ناشونی دی.

(c) ketabton.com: The Digital Library



له دې حديث نه ښکاري، چې د علم لپاره سفر کول اړين دی. له سفر پرته په علم کې لويه زياتونه نه پيښېږي. سفر د انسان ذهني افق ته وده ورکوي. سفر انسان له ځايي پوهې نه نړيوالې پوهې ته رسوي.

## ۰۰٦- د علم ډالۍ

نبي کريمﷺ وفرمايل: «هيڅ پلار خپل اولاد ته له تعليم نه غوره ډالۍ نه ده ورکړې.» بله هره ډالۍ مهالنۍ وي خو علم يوه داسې ډالۍ ده، چې هيڅ کله پای نه مومي. د هر انسان لومړنی ښوونځی خپله کورنۍ وي. د دې ښوونځي ښوونکي مور او پلار وي.

دا حديث مو په يوه وخت کې په دوو خبرو پوهوي. يو دا چې مور او پلار بايد لومړی په خپله تعليم يافته وي ځکه مور او پلار چې تعليم ونه لري، نو نه به د علم په اهميت پوه شي او نه به د اولادونو په تعليم کې خپله دنده سرته ورسولی شي.

(c) ketabton.com: The Digital Library



بله خبره دا ده، چې کورنۍ د ماشوم لپاره يوازې د پالنې ځای نه دی، د ماشوم د تعليم او تربيې زانګو هم ده. هره کورنۍ د ښوونې او روزنې يوه اداره بويه. له دې پرته هره کورنۍ نيمګړې او نيمکله کورنۍ ده، نه په پوره معنا کامله کورنۍ.

## ۰۰۷- د علم لوړاوی

د اسلام پيغمبر وفرمايل: «د شهيد له وينې نه هم د عالم د قلم سياهي ډېره غوره ده.» دا حديث راته ښيي، چې د علم لوړاوی او عظمت له نورو ټولو شيانو ډېر دی.

د دې وجه دا ده، چې علم په ذهن پورې تعلق نيسي. په علم سره ذهن روغتيا مومي، ذهني سوچ ته وده ورکوي، د علم له امله ذهن په چارو ډېر ښه پوهېدلی شي او په ډېر بهتر انداز کې د پلان جوړولو وړتيا ترلاسه کوي.

ټول بدني بهيرونه محدود بهيرونه دي. خپل ټاکلي حد ته

(c) ketabton.com: The Digital Library



چې ورسېږي، بدني بهير هم درېږي. خو د علم خبره بيا فرق کوي. هغه انسان چې علم يې ترلاسه کړی وي، د هغه شخصيت تر نامحدودو حدونو پراختيا مومي. دا ډول انسان د ټولو قيدونو له پاسه د فکر کولو جوګه وي او يو داسې انسان ترې جوړ شي، چې هېڅ څوک يې نه شي لاندې کولی. هغسې چې علم حد نه لري، همداسې هغه انسان هم کوم حد نه لري، چې د علم شتمني يې لاسته ورغلې وي.

## ۰۰۸- د علم خونديتوب



د اسلام پيغمبر ﷺ وفرمايل: «علم د کتابت په مټ خوندي کړئ.» د دې معنا دا ده، چې په خپل ذهن کې شته پوهه د کاغذ سينې ته وسپارئ. په دې ډول به پوهه په خپل درست حالت کې د تل لپاره خوندي شي.

د دې لارښوونې يو اړخ دا دی، چې علم د کتابونو پاڼو ته وليږدول شي. په هره علمي موضوع کتابونه چمتو شي. علم

(c) ketabton.com: The Digital Library



د انساني ذهن له چوکاټونه راووځي او د کتابتونونو د الماریو زینت وګرځي.

د دې حدیث بله بڼه ډایري هم ده. په دې حالت کې به د دې لارښوونې پیروي دا وي، چې هر انسان خپله یوه ډایري ولري او د خپلې هرې ورځې مطالعه او تجربه په لنډو ټکو کې د نېټې له مخې نوشته کړي. په دې سره به د انسان د علمي سفر یو بشپړ ورځلیک چمتو شوی وي.



دا ډایري به د انسان د ورځني ذهني سفر یو لاسوند وي، د خپل احتساب یوه اغېزناکه ذریعه به یې وي. انسان به د خپلې ډایري په مټ د خپلې ماتې او بریا جاج اخیستلی او د خپلې اصلاح چاره کولی شي. په دې ډول به یې ډایري د شخصیت د ارتقاء یوه ذریعه وګرځي.

(c) ketabton.com: The Digital Library



## ۰۰۹- علم د علم لپاره

د اسلام پیغمبرﷺ وفرمایل: «له زانګو نه تر ګوره پورې علم ترلاسه کړئ.» له دې نه ښکاري چې تعلیم د لنډمهالې ګټې یا لنډمهالې دندې لپاره نه کېږي، بلکې یو همېشنی بهیر دی، چې د انسان له زوکړې نه د هغه تر مرګه پورې دوام مومي. نو په دې حساب علم په خپل ذات کې مطلوب دی. د علم اصلي مقصد د انسان شخصیت جوړونه ده او دا لنډمهالی کار نه دی، یو مسلسل بهیر دی. په هر حال او هر ځای کې به مدام روان وي.

د علم یا تعلیم اصلي مقصد د شعور بیدارول دي، تر څو د دوو شیانو ترمنځ په فرق پوه شي. هېڅ کله په محدود سوچ کې ښکېل نه شي. ذهن یې هېڅ کله د جمود ښکار نه شي. علم د انساني شخصیت خواږه دي. هغسې چې جسم له مادي خوړو پرته له کاره غورځي، همدغسې انساني شخصیت هم له علم پرته ناقص کېږي. او ناقص شخصیت په دې

(c) ketabton.com: The Digital Library



دنیا کې هیڅ کله کوم لوی کار نه شي کولی.

## ۰۱۰- بې ګټې علم

د اسلام پیغمبر به دا دعا کوله «اللّٰهُمَّ انی اعوذبک من علم لاینفع» یانې اې خدایه، زه له بې ګټې علم نه تاته پناه دروړم. ګواکې علم هماغه علم دی، چې د انسانیت لپاره ګټور وي، هغه علم چې د انسانیت لپاره ګټور نه وي، هغه علم مطلوب نه دی. د داسې علم ترلاسي ته وخت ورکول چې ربښتیني ګټه نه لري، د وخت بربادول دي.



## ۰۱۱- وده کوونکی شخصیت

په قرآن‌کریم کې د ربښتیني انسان په مثال کې نیالګی راوړل شوی دی. هغسې چې نیالګی په ونې بدلېږي، د انسان شخصیت هم همدغسې وده کوي. تر دې چې د ګورې ونې په څېر په یوه پرمختللي شخصیت بدلېږي. انسان

(c) ketabton.com: The Digital Library



د کوچني ماشوم په بڼه دې دنيا ته راځي. بيا ورو په ورو وده کوي او بشپړ انسان ترې خېژي. دا خو د بدني ودې معامله ده. د انسان ذهن هم په همدې ډول ترقي کوي. دا وده د فکري بهير (thinking process) په مټ جريان مومي. که دا فکري بهير په روغ حالت کې دوام وکړي، نو د انسان ذهن هم د تکامل هغه مقام ته رسېږي، چې د انسان جسم ورته رسېږي.

## ۰۱۲- له پوهېدونکي پوښتنه کول

په قرآن کريم کې ويل شوي دي «که تاسو نه پوهېږئ، نو له پوهېدونکو پوښتنه وکړئ.» ياني نه پوهېدونکي دې له پوهېدونکو وپوښتي او په دې ډول به نه پوهېدونکی په پوهېدونکي بدل شي. خلک عموما پوښتنه کول نه خوښوي. هغوی فکر کوي، چې د پوښتنې معنا د دې خبرې اعتراف دی، چې ته پوهېږې او زه نه پوهېږم. دا وژونکی عادت دی.

(c) ketabton.com: The Digital Library



سالم عادت دا دی، چې سوال کولو ته هم د قاموس يا دايرة المعارف د مطالعې په سترګه وګورو.

هيڅ انسان له خپل ځان نه په ټولو شيانو نه شي پوهيدلی. د دې نيمګړتيا د جبران لپاره انسان کتابونه مطالعه کوي. په همدې ډول په ځان کې بايد دا عادت هم وروزو چې له پوهېدونکو پوښتنې وکړو. پوهېدونکی د انسان لپاره د ژوندي کتاب په څېر دی. نو که کوم احساس يې د کتاب د لوست په مخکې خنډ نه ګرځي، بيا پکار ده چې له پوهېدونکي نه له سوال کولو نه يې هم کوم احساس را ونه‌ګرځوي. له پوهېدونکي پوښتنه کول تعلقات پياوړي کوي. علم ورسره زياتېږي. او په انساني اړيکو کې د ودې باعث ګرځي.



## ۰۱۳- د خدای په نعمتونو کې غور او فکر

د اسلام پيغمبرﷺ وفرمايل: «د خدای په نعمتونو کې غور او فکر کول تر ټولو ستر عبادت دی.» دا غور او فکر په

(c) ketabton.com: The Digital Library



سترګو نه ليدل کېږي، څکه چې په ذهن کې ترسره کېږي. خو د خدای په نزد تر دې لوی عمل نشته.

په حقيقت کې د دنيا په هر څيز کې د نعمت يو اړخ پټ وي. د غور او فکر له لارې د دې نعمتونو رابرسېره کول، په څيزونو کې د نعمت اړخ موندل، همدا هغه څه دي، چې په حديث کې تر ټولو غوره عبادت ياد شوی دی.

په شيانو کې د نعمت اړخ رابرسېره کول داسې عمل دی، چې انسان خدای ته ورنيږدې کوي او انسان له خدای سره تړي. او د انسان لپاره د خدای د معرفت تر ټولو لويه ذريعه ده.



## ۰۱۴- غور او فکر

ابوالدرداء د نبي کريمﷺ صحابي و. له مړينې وروسته يې يوه سړي له مېرمنې امالدرداء پوښتنه وکړه، چې د ابوالدرداء تر ټولو لوی عمل څه و؟ امالدرداء ځواب ورکړ، فکر کول او

(c) ketabton.com: The Digital Library



پند اخیستل. له دې نه ښکاري چې د یوه انسان تر ټولو لوی عمل دا دی، چې د خپل شاوخوا په شیانو غور وکړي او له هغو نه د پند او عبرت اړخ ترلاسه کړي. دا ګواکې د ذهني ارتقاء (intellectual progress) او روحاني ارتقاء (spiritual progress) بهیر دی، چې د سنجیده غور او فکر په بڼه په انسان کې ترسره کېږي. دا بهیر تر مړینې پورې نه درېږي.



## ۰۱۵- علمي خاکساري

د نبي کریمﷺ یوه صحابي عبدالله ابن مسعود وفرمایل: «کله چې تاسو په یوه خبره نه پوهېږئ، نو داسې وایئ چې: الله أعلم (الله ډېر بهتر پوهېږي)» دا اصول په نورو ټکو کې علمي خاکساري بللی شو. او علمي خاکساري د علمي پرمختګ لپاره خورا اړینه ده.

د عربي ژبې یو متل دی: «لا أدری نصف العلم» یانې زه

(c) ketabton.com: The Digital Library



نه پوهېږم، نیم علم دی. زه نه پوهېږم ویل، کومه ساده خبره نه ده. دا په خپلې ناپوهي پوهېدنه ده. انسان چې کله په خپلې ناپوهي پوه شي، نو د تجسس او کنجکاوی روح په کې راویښېږي، چې بلاخره یې د علم تر دیاره پورې رسوي. هرگوره چې انسان په یوه خبره نه پوهېږي، نو پکار ده چې د خپلې ناپوهي اعتراف وکړي. د خپلې ناپوهي اعتراف هم د پوهې په لور یو گام دی. دا مزاج چې نه وي، انسان د علمي پرمختگ لوړو منزلونو ته نه شي رسېدلی.



## ۰۱۶- تعلیم او تربیه

د نبي کریمﷺ یوه ملگري وویل چې: «مامن طائر یطیر بجناحیه الا وهو یذکر لنا منه علما» یانې په هوا کې به چې یوه مرغۍ هم الوتله، نو نبي کریمﷺ به د هغې په تړاو هم د علم او پوهې یوه خبره راته کوله.

دا حدیث د تعلیم او تربیې ډېر پراخه تصویر زموږ مخې ته

(c) ketabton.com: The Digital Library



ږدي. له دې حدیث نه ښکاري، چې د ښوونې او روزنې تعلق یوازې تر ښوونځي او مدرسې پورې نه دی. بلکې د ښوونځي له ماحول نه بیرون هم دا بهیر جریان لري. حقیقت دا دی، چې د طبیعت په غیږه کې په هر کوچني او لوی شي کې د علم یو نه یو اړخ پټ دی. ښوونکی که بیداره ذهن ولري، نو د خپلو زده کوونکو لپاره له ښوونځي او مدرسې نه بهر دنیا هم د تعلیم او تربیې وسیله جوړولی شي. په همدې ډول یو لاربښود د خپلو پیروانو لپاره له هرې منظرې او هرې تجربې نه پوهه اخذ کولی او د هغوی د ذهني او روحاني تربیې چاره پرې کولی شي. زموږ دنیا په ټوله کې یوه پراخه تعلیمي اداره ده. هغه انسان چې د علم رښتونی غوښتونکی وي، هره شیبه به خپله پوهه زیاتوي. او دا علمي سفر به یې هیڅ کله پای ته نه رسېږي.



## ۰۱۷- علم او سنجیدګي

د اسلام پیغمبر ﷺ وفرمایل: «من یخشی الله فهو عالم» یانې

(c) ketabton.com: The Digital Library



څوک چې له خدایه وېره لري، هغه عالم دی. دا حدیث د علم یو ډېر مهم اړخ راته بیانوي او هغه سنجیدګي او احتیاط دی. علم یوازې معلوماتو او بلدتیا ته نه ویل کېږي. یو انسان چې په ژوره معنا علم ترلاسه کړي، نو د هغې طبیعي نتیجه دا وي، چې د خدای په باره کې ډېر زیات محتاط کېږي. دا احتیاط په انسان کې سنجیدګي پیدا کوي. چېرته چې علم وي او سنجیدګي نه وي، نو باید پوه شو، چې هلته بیا په حقیقي معنا د علم په نوم هم کوم څه نشته.



رښتیني پوهه له سړي نه یو نوی انسان جوړوي. د رښتیني علم ښښتن د فطرت له حقایقو خبر وي او څوک چې د فطرت په حقایقو پوه شي، هغه دا نه شي زغملی چې په تضاداتو کې ژوند وکړي، په نامحتاط انداز خبرې وکړي، له خلکو سره ناسنجیده برخورد وکړي. رښتینې پوهه انسان له هر ډول بې باکۍ ژغوري. رښتینی علم په پوره معنا له سړي نه سنجیده او بامسؤلیته انسان جوړوي.

(c) ketabton.com: The Digital Library



## ۰۱۸- د علم زياتوالی

په قرآن کريم کې يوه دعا په دې ټکو کې راغلې «رب زدنی علما» ياني اې زما ربه، زما پوهه زياته کړه. دا قرآني دعا راته ښيي، چې په اسلام کې د علم د ترلاسي اهميت څومره ډېر دی. د اسلام لارښوونه دا ده، چې هر نر او هره ښځه دې پرلپسې په خپل علم کې د زياتوالي لپاره هلې ځلې وکړي.

دعا په اصل کې د هوډ او ارادې يوه بڼه ده. د دعا حقيقت دا دی، چې انسان په پوره معنا د يوه هدف ترلاسي ته متې راونغاړي. له خپلو ټولو هڅو سره، سره خدای ته لاسونه لپه کړي، چې دی په خپلو هڅو کې بريالی کړي. په دې سره دعا هم د انسان د عمل يوه برخه وگرځي.

حقيقت دا دی، چې علم هيڅ حد نه لري. انسان ته پکار ده چې په کوم حد کې له دريدو پرته د پوهې د ترلاسي هلو ځلو ته دوام ورکړي. د دې کار ټولې غوښتنې او تقاضاوې

(c) ketabton.com: The Digital Library



پوره کړي او د علم د زیاتولو لپاره پرلپسې زیار وګالي. علم کوم حد نه لري، د همدې لپاره د علم په لاره کې هلې ځلې هم کوم حد نه لري.

## ۰۱۹- بې ځایه پلمه

د اسلام پیغمبر ﷺ وفرمایل: «انسان تل په دوو شیانو کې غولېږي: روغتیا او فرصت» یانې انسان په دې ګمان وي، چې کله روغ وم، بیا به یې وکړم او چې کله فرصت و، بیا به یې وکړم، خو په ژوند کې د روغتیا او فرصت شېبه هېڅ کله هم نه راځي. نو ځکه انسان په همدې فریب کې پروت وي او بلاخره یوه ورځ یې سترګې پټې شي.

عقلمن انسان هغه دی، چې هېڅ پلمه هم د ځان لپاره پلمه ونه ګرځوي او هرکله یې چې یو کار مخې ته راشي، سمدستي یې سرته ورسوي. د یوه کار لپاره له اوسنۍ شېبې نه بهتر وخت نشته.

(c) ketabton.com: The Digital Library



There is no better time to start than this very minute.

## ۰۲۰- له زړه نه پوښتنه کول

د اسلام پیغمبرﷺ وفرمایل: «استفت قلبلک» یاني له زړه نه فتوا وغواړه. په دې حدیث کې له زړه مراد نه هماغه څه دی، چې شپږم حس یې بولي.

انسان بیا بیا ځلې له ستونزو او مسایلو سره مخ کېږي. په دې مسایلو کې هر ځل له مفتي نه د فتوا غوښتو ته اړتیا نشته. که انسان له نفسیاتي غوټو خلاص وي، نو خپل شپږم حس یې هم بهترین لارښود کېدلی شي. او دا شپږم حس داسې شی دی، چې کوم چېرته یې لټولو ته اړتیا نشته، له انسان سره هر ځای او هر وخت ملګری وي.



## ۰۲۱- د حکمت خبره

د رسول اللهﷺ مشهور صحابي عمر فاروقؓ وویل:

(c) ketabton.com: The Digital Library



«اميتوا الباطل بالصمت عنه» يانې باطل په خپلې چوپتيا سره ووژنئ. دا وينا د چوپتيا ځواک راته ښيي.

مشهور متل دی، چې ټک له دوو لاسونو خېژي. که د باطل له ځواک وروسته تاسې هم عکس العملي اقدام وکړئ، نو باطل لا ډېر ورسره ځواکمن کېږي. خو که تاسې د خاموشي لمنه ونيسئ، په دې سره به د باطل زور ورو په ورو مات شي. او ستاسې له لوري د ځوابي غبرګون د نه ښودو پايله به دا شي، چې د فطرت ځواکونه به ستاسې د مرستې لپاره په خوځښت راشي. او ستاسې کار به په ډېره بهتره بڼه سرته ورسوي.



## ۰۲۲- بلند همتي

د اسلام پيغمبر ﷺ وفرمايل: «لوړ همت د ايمان برخه ده.»

داسې ولې ده؟ ځواب دا دی، چې پر خدای ايمان انسان ته تر ټولو لوی باور ورکوي. دا باور د انسان همت ورلوړوي.

(c) ketabton.com: The Digital Library



خو په دنیا کې انسان بیا بیا ځلې له ناخوښو حالاتو سره مخ کېږي. دا حالات انسان د مایوسي په لور کشوي. که انسان په خدای یقین ولري، نو تر اخري حده حوصله ناک انسان ترې جوړېږي. په خدای یقین ده ته په هغه شېبه کې هم ډاډ ورکوي، چې په ښکاره د انسان د ډاډ او باور لپاره څوک نه وي.

## ۰۲۳- تلپاتې عمل



د اسلام پیغمبرﷺ وفرمایل: «د الله په نزد ډېر د خوښې وړ عمل هغه دی چې تلپاتې وي.» په دې دنیا کې ښتینې بریا همېش ناوخته لاسته راځي. د همدې لپاره غوره عمل هغه دی، چې د بقا وړ (sustainable) وي. په دې دنیا کې هماغه کار پایله ورکوي، چې له پیل وروسته مدام دوام ولري او انسان تېول ژوند ورسره پاتې شي. همداسې یو کار د فطرت له قوانینو سره هم سمون خوري. همداسې یو کار په

(c) ketabton.com: The Digital Library



ربښتیني معنا کار هم وي.

انسان ته بویه چې د یوه کار له پیل دمخه د خپل کار لپاره پلان جوړ کړي. ټول اړوند اړخونه یې وسنجوي. د خپلې وړتیا او شته وسایلو او د زمانې د حالاتو او بل هر شي پوره اندازه ولګوي او بیا له غور او سنجش وروسته خپل کار پیل کړي. کله چې خپل کار پیل کړي، نو بیا دې یې په منځ کې نه خوشي کوي. همدا په دنیا کې د کامیابي یوازنۍ لاره ده.



## ۰۲۴- د زمانې پوهه

د اسلام د پیغمبرﷺ یو اوږد حدیث دی. د هغه یوه برخه دا ده، چې د عقلمن انسان لپاره لازمي ده چې له خپلې زمانې خبر وي. دا حدیث راته وایي چې د انسان د علم بشپړتیا څه ده. د عالم کېدو لپاره دا بسنه نه کوي چې انسان له کتابي معلوماتو سره اشنایي ولري. د ماضي روایتونه او کیسې یې حافظې ته سپارلې وي. بلکې د دې په خوا کې

(c) ketabton.com: The Digital Library



اړينه ده چې انسان له خپلې زمانې خبر وي. د ماضي‌شناس په خوا کې بايد حال‌شناس هم وي.

له خپلې زمانې نه اګاهي فکري اهميت هم لري او عملي هم. بې له دې اګاهي نه د انسان فکر نيمګړی پاتې کېږي او خبرې له افاقي زاويو څخه نه شي درک کولی. د حقيقت ژور تحليل ورته ممکن نه وي. په همدې توګه له عملي پلوه هم دی يو نيمګړی انسان وي. دی په دې نه شي پوهېدلی چې د خپلې زمانې حالاتو ته له ابدي حقايقو سره په څه ډول مطابقت ورکړي. داسې انسان د خپلو چارو بريالۍ پلان ګذاري نه شي کولی.



## ۰۲۵- باهدفه ژوند

د اسلام پيغمبرﷺ وفرمايل: «د انسان د اسلام د ښکلا يوه نښه دا ده چې له بې معنا خبرو لاس واخلي.» د نبي کريمﷺ دا وينا راته ښيي، چې د يوه باهدفه انسان ژوند بايد څه ډول وي.

(c) ketabton.com: The Digital Library



اصلي نکته دا ده، چې په دنيا کې کارونه ډېر دي او د انسان ژوند ډېر لنډ. په داسې حالت کې ضرور ده چې انسان په خپلو بوختياوو کې ټاکنيزه (selective) تګلاره غوره کړي. يوازې په هغو شيانو کې لاسونه ښکېل کړي، چې د ژوند له مقصد سره يې مستقيم ربط ولري. هغه کارونه چې هدف ته يې ګټه نه رسېږي، له هغو نه په بشپړه توګه ډډه وکړي. او د بې ګټې او ګټورو کارونو ترمنځ فرق بايد وپېژني.

له بې ګټې کار نه مراد هغه کار دی چې مازې د شوق او ساتېرۍ لپاره وي، چې له لنډمهالي تفريح وراخوا بل څه ترې لاسته نه راځي. حقيقت دا دی، چې په دغسې عبث کارونو کې ځان مصروفول داسې عيش او تجمل دی، چې باهدفه انسان يې نه شي سهلی.



### ۰۲۶- ګټه رسونه

په قرآن کريم کې ويل شوي چې د دنيا نظام په ګټې

(c) ketabton.com: The Digital Library



رسونې بنا شوی دی. یانې څوک چې نورو ته ګټه رسوي، له نورو نه به ده ته هم ګټه رسېږي. څومره چې ورکړه وي، هماغومره به راکړه وي. د دې اصل سره سم، هرکله چې چاته د محرومیت احساس ودرېږي، نو باید دا ومني، چې دا کار له دې کبله شوی دی، چې انسان خپل ځان ګټه رسوونکی نه دی ثابت کړی. ده نور محروم او بې برخې ساتلي دي، نو ځکه نورو هم دی بې برخې کړی دی. که ده نورو ته ورکولی، نو ارومرو به ده هم له نورو لاسته راوړلی.



د ګټې رسونې دا اصل د ژوند په ټولو اړخونو پورې تعلق نیسي. د دې اصل تعلق له کورنۍ سره هم دی او له ټولنې سره هم. له ملي ژوند سره هم دی او له بین المللي ژوند سره هم. په هره فردي او اجتماعي برخه کې د دې اصل سکه چلېږي. د دې اصل مطابق د ګیلو او نیوکو تګلاره بالکل بې معنا ده. په دې دنیا کې هره ګیله او هره نیوکه د خپلې نیمګړتیا په خلاف ګیله او نیوکه ده. انسان ته پکار ده چې

(c) ketabton.com: The Digital Library



په ګیلو او اعتراضونو کې خپل وخت برباد نه کړي، بلکې په اولني فرصت کې دې د خپلو نیمګړتیاوو د ختمولو کوشش وکړي. د نورو لپاره دې ځان ګټه رسوونکی وګرځوي. همدا د ستونزو یوازنی حل لاره ده.

## ۰۲۷- په چوپتیا کې خلاصون

د اسلام پیغمبر ﷺ وفرمایل: «څوک چې غلی شو، نجات یې وموندہ.» له دې وینا نه ښکاري چې هغسی چې غږېدا یو کار دی، خاموشه اوسېدل هم یو کار دی. هغسې چې اقدام کول یو کار دی، همدغسې اقدام نه کول هم یو کار دی. هغسې چې وړاندې تګ یو کار دی، همدغسې شاته تګ هم یو کار دی. هغسې چې د زور په مقام کې یوه ګټه ده، همدغسې د عاجزې په مقام کې هم یوه ګټه ده. خاموشه اوسېدل یوازې نه غږېدا ته نه ویل کېږي. چوپ اوسېدل یو تدبیر دی. چوپ اوسېدل د خاموشه پلان

(c) ketabton.com: The Digital Library



جوړونې دوهم نوم دی. او دا یو حقیقت دی، چې د چیغو د سیاست په مقابل کې د پټې خولې سیاست ډېر زیات پایله ورکوونکی دی.

پټه خوله نیول ډېرې زیاتې ګټې لري. انسان چې غلی وي، نو فکر کوي. انسان چې غلی وي، نو له نورو زدکړه کوي. انسان چې غلی وي، نو خپل دروني ځواکونه راویښوي. بې له شکه چې غږېدا هم ضروري ده. خو د دې په خوا کې دا هم ضروري ده چې د چوپتیا په حکمت هم پوه شي. ځینې وختونه یوه خبره له خرابېدو نه د ژغورلو لپاره یوازې همدا غواړي، چې انسان غلی پاتې شي. چوپتیا د بې پامه نیولو علامه ده، او دا حقیقت دی، چې له پامه غورځول خورا حکیمانه کړنه ده.



## ۰۲۸- دوه بېلې ځانګړنې

په قرآن کریم کې ویل شوي چې هر انسان ته دوه مختلفې

(c) ketabton.com: The Digital Library



ځانګړنې ورکړل شوې دي. یوه نفس اماره او بله نفس لوامه. دا دواړه ځانګړنې د انسان له پیدایښت سره یو ځای راځي. هېڅ انسان هم له دې دوو ځانګړنو خالي نه دی. له نفس اماره نه مراد انانیت دی او له نفس لوامه نه مراد وجدان دی. دا دواړه ځانګړنې په ابتدایي حالت کې په خوب ویدې وي. که یې رابیدارې نه کړو، نو همداسې ویدې به پاتې وي. که د کوم انسان په هکله یوه داسې خبره وکړو چې غوسه او قهر یې وپاروي، نو نفس اماره به یې راویښ شي او بیا به یې پایله همداسې وي لکه ویده مار چې راویښ کړې.

خو که له انسان سره نرمه رویه وشي، نو نفس لوامه به یې راویښ شي. نو که پخوا خلکو له دې کس نه د ازغي تجربه لیدلې وه، اوس به ترې د ګل تجربه ویني او اوس به یې تر نورو پورې د انسانیت خوږې وړمې رسېږي. اوس به دی د نورو لپاره د رحمت نمونه وګرځي.

(c) ketabton.com: The Digital Library



## ۰۲۹- په صبر سره بریا

د اسلام پیغمبرﷺ وفرمایل: «پوه شئ، چې بریا د صبر ملګرې ده.» د صبر ضد بیړه ده. د بیړې او عجلې کار له پلان او برنامې پرته ترسره کېږي او د صبر کار له پلان او برنامې وروسته ترسره کېږي. او په دې دنیا کې هماغه کار د بریا شمله تړلی شي، چې په پلان سره شوی وي.

## ۰۳۰- له ډغرو وهلو ډډه کول



د اسلام پیغمبرﷺ وفرمایل: «له هیڅ مومن سره نه ښایي، چې خپل ځان خوار کړي. ویې پوښتل، چې یو څوک به خپل ځان ولې خواروي؟ نبي کریمﷺ ځواب ورکړ، چې له یوې داسې بلا سره ځان ښکېل کړي چې زور یې پرې نه رسېږي.»
په دې حدیث کې د ژوند یو حکیمانه اصول ښودل شوی دی. هغه اصول دا دی چې د انسان هر کار باید نتیجه ورکړي. له یوه داسې ځواک سره ځان وهل چې د مبارزې لپاره یې وسله

(c) ketabton.com: The Digital Library



او وسايل نه وي، که انسان د کومې پلمې له مخې له داسې ځواک سره ډغرې ووهي نو پايله به يې دا وي، چې له ذلت او مختورۍ سره به مخ کېږي. هغه کار چې په يو طرفه توګه پخپله د ترسروونکي تباهي ورزياتوي، په دغسې کار کې ځان ښکېلول له هېڅ اړخه هم درست نه دی.

## ۰۳۱- له ځانه ټيټ ته وګورئ

د اسلام پيغمبر ﷺ وفرمايل: «په مادي دنيا کې تر ځان پورته خلکو ته مه ګورئ، بلکې تر ځان ښکته خلکو ته وګورئ، په دې سره به په خپل ځان د خدای نعمتونه حقير نه وينئ.»



الله تعالی د دې دنيا نظام داسې پنځولی دی، چې دلته همېش د لوړو ژورو بيرغونه رپېږي. ځوک وړاندې وي او ځوک وروسته. په دې کې مصلحت دا دی، چې په دې سره د سيالۍ او رقابت بادونه نه درېږي. د دې رقابتونو له امله داسې کېږي، چې په ژوند کې پرمختګونه او فعاليتونه مدام

(c) ketabton.com: The Digital Library



روان وي. په پایله کې یې له هر انسان نه یو څوک وړاندې او یو څوک وروسته وي. بنده ته پکار ده چې همېش تر ځانه ټیټو ته وګوري. د دې پرتلنې یوه ګټه به دا وي چې خپل خدای ورکړي نعمتونه به یې ډېر تر سترګو ورځي او په دې ورکړې به د خدای شکرانې په ځای کوي. خو که دی تر ځان پورته خلکو ته وګوري، نو په ده کې به د کینې او په خپل پوست کې د نه ځایېدو مزاج رينبې وکړي.



مثبت مزاج د بنده له ذهني او روحاني ارتقاء سره مرسته کوي. خو منفي مزاج د انسان د ذهني او روحاني ارتقاء مخه ډب کوي. انسان ته بويه چې د نورو په خاطر ځان له ذهني ارتقاء نه بې برخې نه کړي.

## ۰۳۲- روانه زمانه

په قرآن کريم کې ويل شوي چې زمانه شاهده ده، چې انسان په تاوان کې دی. ګواکې انساني ژوند د واورې مانند

(c) ketabton.com: The Digital Library



دی. هغسې چې واوره شېبه په شېبه ويلېږي او کمېږي، همداسې د انسان ژوند هم هره شېبه کمېږي. د کمېدو دغه بهير تر هغو روان وي چې يو وخت هغه شېبه راورسېږي چې د انسان ټول ژوند ختم شوی وي.

ګواکې هره شېبه د انسان د ساعت ستنه د ځوړ په لور تاوېږي. که د يو کس لپاره دا ټاکلې وي، چې له زوکړې وروسته به شپېته کاله ژوند کوي، نو ګواکې له زوکړې سره هم‌مهاله يې سرچپه حساب پيلېږي. يو کال يې چې پوره شي، نو عمر يې نهه پنځوس کاله پاتې کېږي. ورپسې اته پنځوس، بيا اوه پنځوس، بيا شپږ پنځوس، بيا پنځه پنځوس، او په همدې ډول پرلپسې د انسان سرچپه حساب روان وي. دغه سرچپه حساب درول د هېڅ انسان په وس کې هم نه ده. نو په دې حالت کې هر انسان ته بويه چې خپله هره شېبه قيمتي وګڼي په دې چې تللی وخت بېرته نه راګرځي. هغسې چې تللې زمانه بېرته نه راګرځي، په همدې

(c) ketabton.com: The Digital Library



ډول د ژوند تللې شيبې هم بېرته نه راګرځي.

## ۰۳۳- ناهيلي نه

په قرآن کريم کې ويل شوي چې اې د الله ﷻ بندګانو، ناهيلي مه کوئ، په دې چې د خدای رحمت ډېر پراخه دی. انسان چې هرکله ناهيلی کېږي، نو وجه يې دا وي، چې دی يوازې خپلو امکاناتو ته ګوري. که د انسان نظر په خدايي امکاناتو وي، نو بيا به هېڅ کله مايوسه نه شي.



انساني امکانات خپل حد لري. خو خدايي امکانات هېڅ حد نه لري. که انسان په دې حقيقت پوه شي، نو هېڅ کله به ناهيلي ونه کړي. ځکه چېرته چې په ښکاره د انسان حد رسېدلی وي، په هماغه ځای کې به ده ته يو بل امکان په ګوتو ورشي چې نه کوم حد لري او نه يې پر وړاندې کوم خنډ وي. حقيقت دا دی چې په خدای يقين انسان ته داسې خزانه په لاس ورکوي، چې دی نور هېڅ کله نه مايوسه

(c) ketabton.com: The Digital Library



کېږي. نور هېڅ کله دا احساس نه ورته درېږي، چې د ده لپاره وړاندې نور هېڅ هم نه دي پاتې. د یوه امکان پای د ده لپاره د یوه بل ستر امکان د پیل ټکی ګرځي. د خدای عقیده او مایوسي دواړه خوا په خوا نه شي سره اوسېدلی.

## ۰۳۴- غوره اخلاق

د اسلام پیغمبرﷺ خپلو ځینو ملګرو ته وویل، ایا تاسو ته غوره اخلاق ونه ښیم. ویې ویل، هو! نو نبي کریمﷺ وفرمایل: «ځوک چې خپلوي نه پالي، تاسې ورسره خپلوي وپالئ او ځوک چې تاسې محروموي، تاسې یې هغو ته ورکړئ او ځوک چې په تاسو ظلم کوي، تاسې ورته ښننه وکړئ.» دا حدیث په یوه کلمه کې یو طرفه اخلاقیات بللی شو. د دې حدیث مطابق، غوره اخلاق دا نه دي، چې ځوک ښه رویه درسره وکړي، تاسو هم ورسره ښه رویه وکړئ. دا مساوي اخلاق دي. او مساوي اخلاق غوره اخلاق نه وي.

(c) ketabton.com: The Digital Library



غوره اخلاق هغه دي، چې په غوره اصولو بنا شوي وي. چې د نورو خلكو د عمل په غبرگون كې نه وي، بلكې د اصولي برخورد له مخې شوي وي.

غوره اخلاق دا دي، چې انسان د نورو له برخورد نه ځان لوړ كړي او په يو طرفه توگه په ښو اخلاقو وچلېږي. انسان ځان د غبرگون له نفسياتو وژغوري او په هېڅ حال كې هم د مثبتې اخلاقي رويې لمنه پرې نه‌ږدي. د غوره انسانيت تر ټولو لويه نښه غوره اخلاق دي. او د غوره اخلاقو تر ټولو لويه نښه دا ده، چې د نورو په منفي برخورد سربېره بنده په مثبته رويه ولاړ وي.



## ۰۳۵- بې نفسه انسان

په قرآن كريم كې د غوره شخصيت لپاره د النفس المطمئنه كلمه راغلې ده. النفس المطمئنه ته په نورو ټكو كې له غوټو او عقدو خالي اروا (complex free soul) هم ويلى شو.

(c) ketabton.com: The Digital Library



ياني هغه انسان چې له هر ډول منفي احساساتو او سطحي جذباتو نه اخوا فکر وکولی شي.

په دنيا کې انسان په راز، راز حالاتو کې اوسېږي. دا حالات په انسان کې ډول ډول جذبات پيدا کوي. مثلا کرکه، بغض، کينه، حسد، سوځېدنه، انتقام، تعصب، خودغرضي، غرور، ځان ښودنه، جاه طلبي، بې اعترافي او داسې نور. څوک چې په دغو ټولو جذباتو پښه کېږدي، النفس المطمئنه بلل کېږي. دا يو شعوري بهير دی. هيڅ څوک په خپل سر النفس المطمئنه نه شي کېدلی. بنده بايد په شعوري ډول خپل ځان وروزي. پرلپسې د خپلې پاکې او تطهير بهير په لار واچوي. په دې ډول دا امکان مومي، چې بنده دې النفس المطمئنه شي.



## ۰۳۶- بدی له منځه وړل

په قرآن کريم کې ويل شوي دي چې نېکۍ، بدی له منځه

(c) ketabton.com: The Digital Library



وړي. د دې معنا دا ده، چې له تاسې که کومه بدي وشي، نو وروسې نېکي وکړئ. له دې سره د بدۍ اغېز له منځه ځي. مثلاً که تاسو یو کس ته بد رد وویل، نو وروسته ورته ښې خبرې وکړئ. که مو چاته زیان ورساوه، نو وروسته ورته ګټه ورسوئ. که مو د چا زړه دردولی وي، نو ببښنه ترې وغواړئ. که مو د چا په مقابل کې غاړه نېغه کړې وي، نو اوس د هغه په وړاندې غاړه ټیټه کړئ. که مو له چا سره په بد اخلاقي چلند کړی وي، نو وروسته ورسره په ښو اخلاقو چلند وکړئ. که مو څوک سپک ګڼلی وي، نو وروسته د عزت په سترګه ورته وګورئ. په دې سره به مو بدۍ له منځه لاړې شي.



## ۰۳۷- ګناه څه ده؟

د اسلام پیغمبر وفرمایل: چې ګناه هغه ده، چې په زړه کې مو څرېکه ووهي او د کولو په وخت کې دا وېره درسره وي، چې خلک پرې خبر نه شي. دا د ګناه داسې نښه ده،

(c) ketabton.com: The Digital Library



چې هر انسان په ډېرې اسانۍ پرې پوهېدلی شي. هر انسان وجدان لري. وجدان دومره حساس دی، چې د بدۍ په وخت کې سمدستي انسان سکونډي او که انسان د وجدان غږ ته غوږ ونیسي، نو هېڅ کله به ګناه ونه کړي. دغه راز کله چې انسان ګناه کوي، نو خپله ګناه له نورو خلکو پټوي. او هڅه کوي، چې څوک پرې خبر نه شي. په انسان کې چې کله دغه ډول جذبه راپیدا شي، نو پوه دې شي، چې یوه داسې کار ته یې لاس اچولی دی، چې باید ویې نه کړي.



## ۰۳۸- د ګاونډي حق

د اسلام پیغمبر ﷺ وفرمایل: «په خدای قسم مؤمن نه دی، چې ګاونډی یې له ضرر نه په امان کې نه وي.»

انسان چې هر چېرته وي، ارومرو د یو بل چا په ملتیا او ملګرتیا کې وي. دا ملګري د انسان ګاونډیان وي. د ګاونډیانو دا حق دی، چې هېڅ کله ستاسې له لاسه کومه

(c) ketabton.com: The Digital Library



بدي تجربه نه کړي. په نورو ټکو کې د دې لاربښوونې معنا دا ده، چې په دنیا کې هر انسان باید د «بې ازاره انسان» په حیث ژوند وکړي. بنده باید ډېر زیات احتیاط وکړي، چې د ده له لاسه شاوخوا انسانانو ته کوم تکلیف او ضرر ونه رسېږي. د تکلیف معیار دا دی، چې نورو ته د ګیلې او شکایت فرصت ورنه کړو. که د شاوخوا خلک له تاسې نه په کومه خبره شکایت وکړي، نو د دې معنا دا ده چې نورو ته تکلیف رسوئ. د نورو د شکایت په سر سمدستي باید له هغه کار نه لاس واخلئ.



## ۰۳۹- په کوچنیانو شفقت او د لویانو درناوی

د اسلام پیغمبر وفرمایل: «څوک چې زموږ په کوچنیانو شفقت نه کوي او زموږ د لویانو درناوی نه کوي، هغه زموږ له ډلې څخه نه دی.» دا حدیث راښیي، چې نیک اخلاق څه دي او څرنګه په ټولنه کې وده ورکولی شو.

(c) ketabton.com: The Digital Library



په هره ټولنه کې واړه هم وي او لویان هم. د عمر له پلوه هم او له نورو اړخونو هم. مثلاً په ښوونځي او پوهنتون کې ښوونکی د لویانو په درجه کې دی او زده کوونکی د کوچنیانو حیثیت لري. په دغسې توپیري ټولنه کې په څه ډول په اعتدال سره ژوند وکړو؟ د دې ساده اصول دا دی، چې لویان دې له کوچنیانو سره په رحمت او شفقت چلند کوي او کوچنیان دې له لویانو سره د درناوي او احترام طریقه خپله کړي. په کومه ټولنه کې چې دا دواړه اصول پلي شي، د هغې ټولنې هر وګړی به خوشاله وي او هر یو به د بل په اړه د ښو فکرونو څښتن وي.



## ۰۴۰- په ژمنه درېدل

په قرآن کریم کې ویل شوي چې کله مو ژمنه وکړه، نو پوره یې کړئ، د ژمنو په اړه به د خدای په نزد پوښتنه درنه کیږي. له دې ښکاري چې د ژمنې معامله د دوو انسانانو

(c) ketabton.com: The Digital Library



ترمنځ معامله نه ده. په دې معامله کې خدای هم د دریم لوري په حیث شریک دی.

د ژمنې یا تړون ارزښت دومره ډېر دی، چې انسان ته پکار ده، چې یا خو دې له سره له چاسره ژمنه نه کوي او چې ویې کړي، نو ارومرو دې یې پوره کړي. ژمنه نه کول جرم نه دی. خو له ژمنې وروسته د هغې نه پوره کول یقیناً جرم دی. ان د یوه تړون ماتول دومره ستر جرم دی، چې د ټولو انساني معاهداتو له ماتولو سره برابر دی. په دې چې د تړون د ماتولو هره پېښه تړون ته د درناوي د روایت ماتول دي. تړون ته د احترام په سر د ټولنیز عدالت ټول نظام ولاړ دی. که د معاهدې درناوی له منځه ولاړ شي، نو په ټولنه کې به د عدالت ماحول ورسره ختم شي.



## ۰۴۱- د احسان بدله

د اسلام پیغمبر وفرمایل: «کله چې چا ښېګڼه درسره

(c) ketabton.com: The Digital Library



وکړه، نو هڅه وکړئ چې بدله يې ورکړئ. او که يې بدله نه شئ ورکولی، نو بيا دعا ورته وکړئ.»

دا د شرافت تقاضا ده، چې کله له انسان سره بل بنده ښېګڼه وکړي، نو د هغه په بدله کې دې دی هم له هغه سره ښېګڼه وکړي. که انسان د خپلو حالاتو له مخې د دې جوګه نه وي چې د هغه بدله ورپوره کړي، نو د هغه د جبران لپاره يو کار کولی شي، او هغه دا چې د خپل محسن په حق کې دې له خدای نه بهترينې دعاګانې وغواړي.



## ۰۴۲- د نورو په غم نه خوشالېدل

د اسلام پيغمبرﷺ وفرمايل: «د خپل ورور په مصيبت مه خوشالېږئ. و دې شي چې خدای په هغه رحم وکړي او هغه مصيبت په تاسې رانازل کړي.» په دې حديث کې خلک له يوې داسې بدې راګرځول شوي دي، چې د خپل ځان د تباهي په معنا ده. يو انسان چې په کوم غم اخته شي، نو د

(c) ketabton.com: The Digital Library



هغه په لیدو باید ستاسې په زړه کې د خواخوږۍ جذبه راوټوکیږي. پکار ده چې له هغه سره مرسته وکړئ یا لږ تر لږه دعا ورته وکړئ. مګر د نورو په مصیبت خوشالېدا خورا پست کار دی. او د اخلاقي لوېدا بدترینه بڼه ده.

بله دا چې که انسان د نورو په مصیبت خوشاله شي، نو د خدای دا کړنه ډېره بده ایسي. تر دې چې خدای ترې خفه کیږي او دا پرېکړه کوي، چې له لومړي شخص نه مصیبت لرې کړي او د هغه بل کس په سر یې ورواچوي. دا بې له شکه د انسان د بدمرغۍ تر ټولو بد حالت دی.



## ۰۴۳- ښه ګمان ساتل

د اسلام پیغمبر ﷺ وفرمایل: «حسن ظن هم یو ډول عبادت دی.» دا حدیث راته ښیي، چې د یو چا په اړه ښه ګمان لرل دومره لوی عمل دی، چې له عبادت سره برابر دی.

(c) ketabton.com: The Digital Library



د بل کس په باره کې ښه گمان ساتل مشکل کار دی. بنده چې د خلکو په منځ کې اوسي، نو بيا بيا ځلې داسې خبرې منځته راځي، چې بدگماني ته لاره جوړوي. چې له امله يې د بنده په ذهن کې د بل کس ناوړه تصوير جوړيږي. په داسې حالت کې خوش‌گماني ساتل اسانه خبره نه ده. يوازې هماغه انسان د نورو په هکله ښه گمان لرلی شي، چې په بدگماني سربېره په خوش‌گماني درېدل يې زده وي. په چا کې چې دغسې بلندظرفي وي، هغه که د چا په باره کې بدې خبرې هم واوري، بيا هم داسې نه کوي، چې د هغه په خلاف د بدگمانۍ پېټی په اوږو بار کړي.



## ۰۴۴- احسان منل

د اسلام پيغمبر وفرمايل: «چا چې د بنده شکر ونه کړ، د خدای شکر به هم ونه کړي.» شکر په اصل کې د احسان منل دي. که په انسان کې دا نفسيات وي، نو اظهار به يې د

(c) ketabton.com: The Digital Library



انسانانو په وړاندې هم کېږي او د خدای په وړاندې هم. دا ناشونې ده، چې انسان دې له یوه پلوه ناشکره وي او له بل پلوه دې شکر ایستونکی وي.

د یو چا د احسان اعتراف کول ډېر لوړ انساني صفت دی. شکر د همدې اعتراف نوم دی. په انسان باندې تر ټولو لوی احسان د خدای دی. د همدې لپاره انسان باید تر ټولو ډېر د خدای شکر په ځای کړي. د دې شکر نښه دا ده، چې انسان په ورځني ژوند کې د خپل ځان په څېر د انسانانو احسانونه ومني. یو انسان چې د دغه اعتراف تومنه نه لري، نو دا د دې نښه ده، چې هغه د خدای د احسان په برخه کې هم شکر نه کوي. له یوه پلوه شکر او له بل پلوه ناشکري دواړه په یوه زړه کې نه شي یو ځای کېدلی. په انسان کې به یا د دواړو لپاره شکر وي او یا به د دواړو لپاره نه وي.

(c) ketabton.com: The Digital Library



## ۰۴۵- له تېروتنې وروسته پښېماني

د اسلام پيغمبرﷺ وفرمايل: «هر انسان خطاكار دی او غوره خطاكار هغه دی، چې له تېروتنې وروسته پښېمانه وي.» له دې ښكاري چې اصلي تېروتنه تېروتنه كول نه دي، بلكې اصلي غلطي د خپلې غلطي نه منل دي.

دا دنيا د امتحان دنيا ده. دلته انسان په داسې حالاتو كې ژوند كوي چې بيا بيا ځلې د غلطي امكان زموږ پښنه وهي. د همدې لپاره د انسان اصلي ښېګڼه دا نه ده چې هېڅ كله تېروتنه ونه كړي، بلكې په خپله غلطي باندې بايد ټينګار ونه كړي. له غلطي وروسته سمدستي بايد د ده وجدان راپيدار شي، د خپلې غلطي په سر سخته پښېماني ورته ودرېږي او غلطي كول ورته د دې وسيله شي، چې له ځان سره د احتساب جذبه يې راوپښه شي.

(c) ketabton.com: The Digital Library



## ۰۴۶- د وجدان غږ

له نبي کريمﷺ نه يوه صحابي د نېکي او بدي په اړه وپوښتل. نبي کريمﷺ ځواب ورکړ، چې له خپل زړه نه فتوا وغواړه، ياني له خپل زړه نه په دې مسئله ځان پوه کړه. نېکي هغه ده چې ستا زړه پرې مطمئن وي او بدي هغه ده چې ستا په زړه کې ځړيکه وکړي. په انسان کې له پيدايښت سره يو حس پيدا کېږي. دا د انسان وجدان دی. وجدان يو ډول د حقايقو محکمه ده. وجدان سمدستي انسان پوهوي، چې حق او ناحق څه شی دی. کومه رويه درسته ده او کومه رويه نادرسته. که انسان فقط همدومره وکړي چې د خپل وجدان غږ ته غوږ کېږدي، نو همدا يې هم د لارښوونې لپاره بسندويه ده.

وجدان تل خپله دنده ترسره کوي. په هره موقع کې راته وايي چې څه سم دي او څه ناسم دي. که انسان له غفلت نه کار وانه خلي نو د ده وجدان د دې لپاره کافي دی، چې د

(c) ketabton.com: The Digital Library



ربښتینولۍ په لاره یې روان کړي.

## ۰۴۷- امانتونه سم وسپارئ

د قرآن کریم په احکامو کې یو حکم دا هم دی چې اې خلکو، امانتونه د هغوی خاوندانو ته وسپارئ. دا قرآني حکم ډېر جامع حکم دی او په ټول ژوند پورې تعلق نیسي.

د امانت یوه بڼه دا هم ده، چې د یو چا مال د امانت په توګه له تاسې سره ایښی وي، نو تر خپل ښتن پورې د هغه امانت سم او روغ رسول فرض دي. په همدې ډول د یوه ښوونیز مرکز استاد هم امین دی او زده کوونکي یې امانت دي. ښوونکي ته پکار ده چې خپل مسؤلیت وپېژني او هغه انساني نسلونه چې ده ته د امانت په توګه سپارل شوي دي، د هغوی د حقونو په برخه کې هېڅ کمی ونه کړي. په همدې توګه یو څوک چې د هېواد واکمن شي، نو ټول هېواد د امانت په توګه لاسته ورځي او دی یې د امین په مقام کې وي. په

(c) ketabton.com: The Digital Library



داسې حالت کې په واکمن فرض دي چې هغه هيلې پوره کړي، چې له مخې يې ده ته دا امانت سپارل شوی دی.

## ۰۴۸- سوله ييز کلچر

د اسلام يوه لارښوونه دا ده، چې دوه کسان له يو بل سره مخامخ شي، نو يو بل ته دې السلام عليکم ووايي. ياني په تاسو دې سلامتيا وي، په تاسو دې سلامتيا وي. اسلام په اصل کې سوله ييز کلچر دی او السلام عليکم ويل د دې سوله ييز کلچر سمبول.

د اسلام لارښوونه دا ده، چې د بنده په زړه کې دې د بل بنده لپاره د رحمت او شفقت جذبات په څپو وي. هر انسان دې د بل انسان لپاره د سوله ييز ژوند ارمانجن وي. هر انسان دې کوشش کوي، چې ټولنه يې د امن او سلامتيا ټولنه شي. دا د اسلام اساسي لارښوونه ده. حقيقت دا دی، چې د اسلام ټولې لارښوونې په سيده يا ناسيده بڼه د سولې

(c) ketabton.com: The Digital Library



په اصول ولاړې دي په دې چې له سولې پرته د رغونې یو کار هم امکان نه لري. چېرته چې سوله نه وي، پرمختګ به هم نه وي. سوله د یوې ټولنې د پرمختګ لپاره همدومره اړینه ده، څومره چې اوبه د ځمکې د ابادۍ لپاره.

## ۰۴۹- سوله ییز ذهنیت

د اسلام پیغمبر ﷺ وفرمایل: «تاسو له دښمن سره د جګړې ارزو مه کوئ، بلکې له الله نه خیر او عافیت وغواړئ.» په دې حدیث کې د ژوند یو اساسي اصول په ګوته شوی دی. د دې اصول ارزښت د فرد لپاره هم دی او د قوم لپاره هم. یو انسان چې په ټولنیز ژوند کې اوسي، نو له نورو سره یې اختلافات هم راپیدا کېږي، تر دې چې خبره تر دښمنیو هم رسېږي. خو دا درسته طریقه نه ده، چې یو انسان مو دښمن تر نظر درشي، نو له هغه سره جګړې ته متې ونغاړئ. د دې په ځای سمه طریقه دا ده چې له دښمن

(c) ketabton.com: The Digital Library



سره هم د ښکر وهلو طریقه غوره نه کړو، بلکې د سولې د اصولو له مخې له هغه سره د جوړجاړي هلې ځلې وکړو.

سوله ییزه طریقه په هر حال کې د عمل وړ ده. یوازې باید دومره وکړو، چې د دښمنۍ له پیدا کېدو وروسته د منفي نفسیاتو ښکار نه شو.

## ۰۵۰- سوله ییز ښاري

د اسلام پیغمبر ﷺ وفرمایل: «مسلمان هغه دی چې له لاس او ژبې نه یې نور خلک خوندي وي.»

د دې معنا دا ده، چې د خدای رښتونی بنده هغه دی، چې په ټولنه کې په نه تشدد ژوند وکړي. نه یې نورو ته له ژبې نه ضرر ورسېږي او نه یې له لاس نه څوک ځور تجربه کړي. دا د انسانیت ټیټ معیار دی. د انسانیت لوړه درجه دا ده، چې ښځه او نر په ټولنه کې داسې ژوند وکړي، چې نورو ته یې

(c) ketabton.com: The Digital Library



ګټه ورسېږي. او که څوک نورو ته ګټه نه شي رسولی، نو لږ تر لږه دې دومره وکړي، چې په خپله ټولنه کې دې بې ازاره انسان پاتې شي او نور خلک دې له خپل ازار نه وژغوري.

یو انسان چې له خپلې ژبې او لاس نه نورو ته زیان رسوي، نو خپل انسانیت له لاسه ورکوي او د انسانیت له درجې نه د حیوانیت درجې ته راغورځي. د انسانیت رښتینی معیار دا دی، چې بنده دومره حساس وي، چې د نورو لپاره ازاري کېدل اصلا ورته د زغملو وړ نه وي.



یو انسان چې په دې مسئله کې حساس وي، هغه نورو ته په زیان رسولو خوښي نه کوي بلکې دا فکر ورسره پیدا کېږي چې ځان مې د انسانیت له درجې نه غورځولی دی. او که کله د ده له لاسه چاته زیان ورسېږي، نو سمدستي پرې خجالته کېږي او د زیان د جبرانولو کوشش کوي. او تر هغه وخته سکون نه مومي، چې له خپل ورور نه یې بښنه نه وي غوښتې او یا یې خپله تېروتنه نه وي جبران کړې.

(c) ketabton.com: The Digital Library



## ۰۵۱- له زيانه ځان وژغورئ

د اسلام پيغمبرﷺ وفرمايل: «په اسلام کې نه زيان اخيستل شته او نه زيان رسول.» دا حديث يو مهم اجتماعي اصول راته بيانوي. د دې اصول تعلق په نر پورې هم دی او په ښځې پورې هم، په فرد پورې هم دی او ډلې پورې هم، دا اصول د ملي ژوند لپاره هم دی او د بين المللي ژوند لپاره هم.

په اوسنۍ دنيا کې هر انسان په بېلا بېلو حالاتو کې ژوند تېرولو ته اړ کېږي، کله په موافقو حالاتو کې او کله په مخالفو حالاتو کې، کله د ښادۍ په حالاتو کې او کله د غم په حالاتو کې. په داسې حالت کې نر او ښځه په څه ډول په دې دنيا کې ژوند وکړي، د هغه لپاره دا حديث يو هراړخيز اصول دی. ياني دا چې هر انسان دې داسې بې ازاره ژوند وکړي چې له يوې خوا د ده له لاسه چاته هېڅ تکليف ونه رسېږي او له بلې خوا دې دومره ځيرک وي، چې بل څوک هم دا فرصت ونه مومي، چې ده ته زيان ورسوي.

(c) ketabton.com: The Digital Library



## ۰۵۲- ډېر لوی څواک

د اسلام پیغمبرﷺ وفرمایل: «خدای په نرمي هغه څه ورکوي چې په سختي يې نه ورکوي.» په دې تورو کې د فطرت یو قانون بیان شوی دی. هغه دا چې د دې دنیا خالق دا دنیا داسې پنځولې ده، چې دلته په نرمي او نه تشدد کارونه سمبړي او په سختي او تشدد کارونه ورانېږي. نرمي او نه تشدد ګټوره پایله ورکوي او د سختي او تشدد لاره بې پایلې پاتې کېږي.



د سختي او تشدد لاره د بړاس ويستلو لپاره خو کار ورکولی شي مګر د یوه رغنيز هدف په ترلاسي کې ګټه نه شي رسولی. د رغوني او پرمختګ کارونه یو داسې روش غواړي، چې له پیل وروسته مسلسل دوام وکړي. د پایداره عمل دا ځانګړنه یوازې د نه تشدد په تګلاره کې موندل کېږي.

(c) ketabton.com: The Digital Library



## ۰۵۳- سوله بهتره ده

په قرآن کریم کې خلکو ته خطاب شوی دی، چې سوله بهتره ده. د دې معنا دا ده چې کله یوه شخړه پیښه شي، نو غوره دا ده، چې خلک د نښتې لاره خپله نه کړي بلکې د جوړجاړي لاره دې ونیسي. په ژوند کې بیا بیا ځلې داسې پېښېږي، چې د دوو کسانو ترمنځ په یوه خبره شخړه پېښېږي، په دې حالت کې د خلکو په مخکې دوه ممکنه لارې پرتې وي. یوه دا چې د نښتې او تشدد له لارې د ستونزې د حل کوشونه وکړي او بله دا چې د سوله ییزو خبرو اترو او مکالمې له لارې په خپلو کې جوړجاړی وکړي او شخړه په خپله ابتدايي مرحله کې شنده کړي.

دا حقیقت دی چې یوازې د جوړجاړي لاره د دواړو خواوو لپاره گټوره لاره ده. د نښتې طریقه تل سرچپه پایله زېږوي. خپل منځي کرکه ورسره زیاتېږي. او تر کومه چې د اصلي ستونزې خبره ده، هغه هم نه حلیږي. که خلک دې مسئلې

(c) ketabton.com: The Digital Library



ته د نتیجې له کړکیو وګوري، نو هېڅ کله به د مخامختیا روش غوره نه کړي، په دې چې د مخامختیا مسیر انسان له تباهي پرته بل هېڅ ځای ته هم نه رسوي.

## ۰۵۴- ټولنیز خدمت

په قرآن کریم کې ویل شوي چې د خدای رښتیني بندګان هغه دي، چې په مالونو کې یې د سوالګرو او محرومو خلکو حق معلوم وي. له سوالګر نه مراد هغه څوک دی چې په خوله یو څه وغواړي او له محروم نه مراد هغه سړی دی چې په خوله خو یې نه غواړي مګر بې وسي او بې کسي یې په لویه خوله چیغې وهي.

د خدای رښتیني بندګان تر هغو پورې خپله ګټه د ځان لپاره دُرسته نه ګڼي چې د سایل او محروم برخه یې نه وي ترې ورکړې. دا لارښوونه له هر انسان نه د ټولنې خدمتګار جوړوي. له کومې ټولنې چې دی د ځان لپاره یو څه اخلي، نو دا هم په

(c) ketabton.com: The Digital Library



ځان فرض ګڼي چې بېرته يې هغې ټولنې ته هم ورکړي.

له سايل نه مراد عام اړمن وګړي دي. له محروم نه په ځانګړې توګه هغه خلک مراد دي، چې له يوه علته معذور او يا معيوب شوي وي. د معذورو خلکو خدمت کول د اسلام په نزد مازې ټولنيز خدمت نه دی. بلکې ځان د خدای د ابدي رحمتونو مستحق ګرځول دي.

## ۰۵۵- ټول انسانان يو دي



د اسلام پيغمبرﷺ وفرمايل: «ټول انسانان د ادم اولاده دي او واورئ چې ادم له خاورې پيدا شوی و.» په دې حديث کې دا حقيقت اعلان شوی دی چې ټول انسانان برابر دي. په دوی کې ځينې ظاهري فرقونه به وي، خو د حقيقت له پلوه له يو بل سره هېڅ فرق نه لري.

دا حديث د ټولو انساني اړيکو يو مهم اصول رازده کوي.

(c) ketabton.com: The Digital Library



او هغه د مساواتو اصول دی. ټول انسانان چې له يوې مادې خلق شوي دي او ټول د يوه نر او ښځې اولاده دي، نو په دوی کې هر ډول فرق او امتياز پخپله په اوبو لاهو کېږي. د دې اصول مطابق، ټول سړي د يو بل د وينې وروڼه (blood brother) دي. او ټولې ښځې د يو بل لپاره د وينې خويندې (blood sisters) دي. دا اصول د انسان او انسان ترمنځ د توپير او امتياز ټول بنيادونه ړنګوي.

## ۰۵٦- د مشورې ارزښت



په قرآن کريم کې په مشورې ډېر تاکيد شوی دی. د نبي کريمﷺ په هکله په روايتونو کې راځي چې ده مبارک به همېش په چارو کې له خلکو سره مشوره کوله. مشوره څه ده؟ مشوره دا ده، چې په پېښه شوې مسئله کې د هر کس رايه وغوښتل شي. په دې سره د هر انسان پوهه او تجربه مخې ته راځي او دا ممکن کېږي چې په ډېر بهتر انداز د

(c) ketabton.com: The Digital Library



ستونزې د هوارولو لارې چارې وسنجول شي او په ډېر ښه پلان سره کار پیل شي. له مشورې پرته چې کوم کار ترسره کېږي، هغه به د یوه کس په فکر بنا وي او له مشورې وروسته چې کوم کار کېږي، په هغه کې د ګڼو خلکو فکرونه راټول وي.

مشوره په اصل کې د ټولنيز فکر بل نوم دی. په فردي سوچ او اجتماعي سوچ کې چې کوم فرق وي، هماغه فرق د بامشورې کار او د بې مشورې کار ترمنځ هم دی. له ګڼو علتونو داسې کېږي چې د یوه کس ذهن ټولو اړخونو ته نه رسېږي. مشوره د همدې نیمګړتیا جبران دی. د مشورې له لارې دا امکان مومي چې انسان په چارو کې ډېرې سمې رایې ته ورسېږي، له وړاندې نه د تېروتنو د مخنیوي تدبیر وکړي. مشوره د بریالي پلان مهمه برخه ده.

(c) ketabton.com: The Digital Library



## ۰۵۷- خبرې بندول نشته

د اسلام پیغمبرﷺ وفرمایل: «د انسان لپاره روا نه ده چې له خپل ورور سره تر درې ورځو نه ډېر خبرې اترې ونه کړي.» د دې معنا دا ده چې که مو له چا سره شخړه راشي او د خبرو بندولو نوبت راشي، نو ډېر تر ډېره د درې ورځو لپاره یې دا کار جواز لري. له درې ورځو نه زیات خبرې اترې بندول په هېڅ حال کې هم روا نه ده. تر هغه وروسته خبره د انسان ایگو (انا) ته رسېږي. د یو چا لپاره غوسه جواز لرلی شي، خو د انانیت جواز د هیچا لپاره هم نشته. غوسه یوه فطري کمزوري ده چې د لنډ وخت لپاره پارېږي خو انانیت یوه بدي ده. انانیت د سرکشۍ مسئله ده. همدا وجه ده چې غوسه د بښنې وړ ده خو انانیت او سرکشي نه ببنل کېږي. د لنډمهالي غوسې لپاره انسان یو عذر لرلی شي خو انانیت او سرکشي یو داسې جرم دی چې د هغو لپاره هېڅ د منلو وړ عذر نشته.

(c) ketabton.com: The Digital Library



## ۰۵۸- له منلو مخکې پلټنه

په قرآن کريم کې امر شوی دی چې کله د چا په باره کې کوم څه درته وويل شي، نو لومړی تحقيق وکړئ. له دې ښکاري چې له څېړنې پرته يوه خبره منل ډېر نامسوولانه کار دی.

عموما د خلکو طبيعت داسې وي، چې څه يې واورېدل يا يې ولوستل، نو سمدستي يې مني. حال دا چې تجربه راښيي، چې خبر رسوونکی زياتره وختونه په يوه خبره پوره نه وي پوهېدلی او تر نورو يې رسولې وي. خو له څېړنې وروسته په ډاګه کېږي چې اصلي خبره هم نيمګړې وه او له هغې خبرې نه اخيستل شوې پايله هم نيمګړې وه.

له څېړنې پرته يوه خبره منل په زياترو حالاتو کې د تاوان سبب کېږي. په دې سره بدګمانی ايجادېږي. خلک د يو بل په باره کې غلطې رايې جوړوي. تر دې چې بعضې وختونه

(c) ketabton.com: The Digital Library



يوه ناسمه خبره د جګړې او فساد لامل ګرځي. په داسې حالت کې د مسووليت تقاضا دا ده چې يوه خبره په بشپړه توګه وڅېړو، بې له څېړنې يوه خبره سمه ونه ګڼو.

## ۰۵۹- ټول انسانان ورونه، ورونه

د اسلام پيغمبرﷺ وفرمايل: «اې خدايه، زه شاهدي ورکوم چې ټول انسانان په خپلو کې ورونه، ورونه دي.» دا حديث د انساني اړيکو بنياد راته بيانوي. د دې حديث مطابق، د ټولې نړۍ خلک د يوې کورنۍ مانند دي. هر يوه ته پکار ده چې له نورو سره هماغسې چلند وکړي چې په خپله کورنۍ کې يې له خپل ورور سره کوي. دا اصول د نړيوالې ورورۍ اصول دی. دا اصول د خپل او بل وېش له منځه وړي. د دې اصول په خپلولو سره ټول پردي په خپلو بدلېږي. هيڅ څوک د چا لپاره پردی نه وي. دا اصول ټول انساني ټبنت په يوه داسې مضبوط تار تړي چې تر هغه بل

(c) ketabton.com: The Digital Library



مضبوط تار نشته.

## ۰۶۰- درې حرام شیان

د اسلام پیغمبرﷺ وفرمایل: «په یوه انسان د بل بنده درې شیان حرام دي، د هغه وینه، د هغه مال او د هغه ابرو.» دا اصول د دوو انسانانو ترمنځ د ازادي حد تعریفوي. هر انسان ازاد دی. خو د ده ازادي هلته ختمېږي، چېرته چې د بل انسان د ځان، مال او ابرو لپاره خطر ګرځي.



انسان ته په دې دنیا کې ازادي ورکول شوې ده، په دې چې بې له ازادي پرمختګ نه کېږي. خو دا ازادي نامحدوده نه ده، محدوده ده. یو انسان یوازې تر هماغه وخته ازادي لري چې د بل انسان ځان، مال او ابرو ته نقصان ونه رسوي. په کومه شېبه کې چې انسان په دې درې شیانو کې د نورو لپاره خطر وګرځي، د ده ازادي پای ته رسېږي. او خپله فطري ازادي ترې اخیستل کېږي.

(c) ketabton.com: The Digital Library



## ۰٦۱- هر کس مسؤل دی

د اسلام پیغمبرﷺ وفرمایل: «واورئ، له تاسو هر یو شپون دی، او له هر یوه نه به د هغه د رمې په اړه پوښتنه کېږي.» په دې حدیث کې د شپون او رمې د مثال په مرسته د ژوند یو حقیقت روښانه شوی دی. هغسې چې شپون خپله رمه لري، همداسې هر انسان د خپلو حالاتو له مخې یوه رمه لري. او په هر شخص فرض دی، چې د خپلې رمې د ساتنې مسؤلیت سرته ورسوي.



مثلاً د کورنۍ د مشر لپاره د هغه کورنۍ رمه ده. په ده فرض دی، چې د خپلې کورنۍ اړوند خپل مسؤلیتونه په ځای کړي. همداسې په ښوونځي یا پوهنتون کې یو استاد د خپلو زده کوونکو مسؤل دی. په ده فرض دی، چې د خپلو زده کوونکو په حق کې خپل ښوونیز مسؤلیت په بشپړه توګه سرته ورسوي. دغه راز یو رهبر د خپلو پیروانو مسؤل دی. په ده فرض دی، چې کوم خلک د ده ملګرتیا کوي، په پوره معنا د

(c) ketabton.com: The Digital Library



هغوی خیرخواهي وکړي. همداسې د یوې ادارې مشر د هغې ادارې اړوند خلکو په حق کې مسؤل دی. په ده فرض دی، چې په ادارې پورې د مربوطو خلکو په هکله خپل مسؤلیتونه ادا کړي.

## ۰۶۲- له هر یوه سره مرسته

د اسلام پیغمبرﷺ وفرمایل: «له خپل ورور سره مرسته وکړئ، که ظالم وي یا مظلوم. خلکو وپوښتل چې د مظلوم په مرسته خو پوهېږو، خو له ظالم سره څرنګه مرسته وکړو؟ نبي کریمﷺ وفرمایل: ظالم له خپل ظلم نه راوګرځوئ.» اسلام په هر انسان کې دا روحیه روزل غواړي، چې بنده باید د بل انسان خیر غوښتونکی وي. د همدې خیر غوښتنې عملي بڼه مرسته ده. د مظلوم مرسته دا ده، چې له ظلم نه یې وژغورو. د ظالم مرسته دا ده، چې له ظلم نه یې راوګرځوو. له ظلم نه یې د راګرځولو معنا دا نه ده چې له هغه

(c) ketabton.com: The Digital Library



سره نښتو ته ملا وتړو. د ظالم واقعي مرسته دا ده، چې د اصلاح لپاره دعا ورته وشي، له خيرخواهۍ ډک نصيحتونه ورته وشي. داسې حالات ورته مساعد شي، چې ظالم کس ته د خپلې تېروتنې احساس ودرېږي او د ظلم پرېښودو ته راضي شي. د ظالم مرسته له ظالم نه نفرت کول نه دي بلکې له ظالم سره خيرخواهي کول دي. په نفرت سره ظلم زياتېږي او خيرخواهي د ظلم ريښې وروچوي.

## ٠٦٣- نرمه رويه



د اسلام پیغمبر خپل ملګري په يوه سفر استول نو د نصيحت په ژبه يې ورته وويل چې له خلکو سره په نرمي چلند وکړئ ځکه چې تاسې اساني کوونکي لېږل شوي ياستئ، سختي کوونکي نه ياستئ لېږل شوي. دا حديث د هرې ځانګې په خلکو پورې تعلق نيسي. په دې حديث کې د هر چا لپاره نصيحت شته. مثلاً يو افسر به له خپلو ماتحتو

(c) ketabton.com: The Digital Library



سره د همدې اصول له مخې چلند کوي. یو استاد به له خپلو زده کوونکو سره همدا معامله کوي. یو مدير به د خپل شرکت له کارمندانو سره په همدې ډول برخورد کوي، او داسې نور.

هر انسان ته بویه چې دا نصحیت په پام کې ونیسي. او دا فکر ورسره وي، چې دی چې هر چېرته دی، هغه ځای ته د خدای له لوري لېږل شوی دی. دی به خلک په ستونزو کې نه اچوي، بلکې د اسانی لارې به ورته لټوي.



## ۰۶۴- د رحم فورمول

د اسلام پیغمبر وفرمایل: «تاسې د ځمکې په اوسېدونکو رحم وکړئ، د اسمانانو خاوند به په تاسو رحم وکړي.» دا یو ساده اصول دی، چې په هر نارینه او ښځینه کې د خیر د کار داسې جذبه راپاروي چې هېڅ کله پای نه مومي.

هر انسان د خدای مرستې ته محتاج دی. هره ښځه او

(c) ketabton.com: The Digital Library



هر نر اړتیا لري، چې د ژوند په بېلا بېلو پړاوونو کې د خدای له مرستې برخمن وي. په دې دنیا کې هېڅ څوک هم د خدای له مرستې پرته نه شي کامیابېدلی.

د دې لپاره چې ځان د خدایي مرستې مستحق وګرځوو، تر ټولو اسانه لاره یې دا ده، چې انسان چې د خپل ځان لپاره له خدای نه څه غواړي، هماغه څه دی نورو خلکو ته هم ورکړي. دی غواړي، چې خدای ورسره مرسته وکړي، نو ده ته هم پکار ده، چې له نورو سره مرسته وکړي. دی غواړي، چې خدای ورسره د نرمي چلند وکړي، نو دی دې هم له نورو سره په نرمي چلند کوي. دی غواړي، چې خدای یې له تېروتنو او لغزشونو ورتېر شي، نو ده ته هم بویه چې د نورو له تېروتنو ورتېر شي.

له انسان سره د نرمي او شفقت چلند ګواکې عملي دعا ده او د عمل په ژبه کې دا ویل دي، چې خدایه! ما ستا له بندګانو سره د نرمي او شفقت معامله وکړه، نو اوس ته هم له

(c) ketabton.com: The Digital Library



ماسره د نرمي او شفقت معامله وکړه.

## ۰٦٥- خپلمنځي درناوی

په قرآن کريم کې د پيغمبر عليه السلام په ژبه ويل شوي دي چې اې خلکو، ستاسې لپاره ستاسې دين او زما لپاره زما دين. دا آيت راته ښيي، چې په يوه ټولنه کې چې د ګڼو مذاهبو خلکو ژوند کوي، نو د هغو ترمنځ معتدل ماحول څرنګه جوړ کړو. د دې ساده فورمول دا دی چې د يوه پيروي وکړئ او نورو ټولو ته درناوی وکړئ:

Follow one and respect all.

په مشترکو مذهبي ټولنو کې د سوله ييزې فضا لپاره همدا يوازنی اصول دی. دا دنيا د اختلاف دنيا ده. په دې دنيا کې د اختلافاتو ختمېدل امکان نه لري. په داسې حالت کې د عمل وړ فورمول همدا يو دی او هغه زغم او تحمل دی.

(c) ketabton.com: The Digital Library



یاني هر یوه ته دا حق ورکول چې د خپلې خوښې مطابق مذهب یا کلچر ورخپل کړي.

د اختلاف په موضوع باندې له یو بل سره سوله ییز ډیالوګ کولی شو، خو د اختلاف د ختمولو کوششونه لا زیات اختلافات زېږوي، له دې پرته هېڅ هم نه کوي.

## ۰۶۶- مذهبي درناوی

د پیغمبرﷺ په زمانه کې په مدینه کې ځینې یهودي قبیلې اوسېدې. یوه ورځ د اسلام پیغمبر ولیدل چې په لاره باندې یوه جنازه روانه ده. د اسلام پیغمبر په دې وخت کې ناست و. د جنازې په لیدو پیغمبرﷺ سمدستي له درناوي ورته ودرېده. یوه صحابي وویل، اې د خدای رسوله! دا خو د یوه یهودي جنازه وه. نبي کریمﷺ وفرمایل، ولې هغه انسان نه دی؟

دا حدیث راته ښیي، چې انسان په هر حال کې د درناوي

(c) ketabton.com: The Digital Library



وړ دی، هغه که زموږ د خپل مذهب وي او که د بل مذهب، زموږ د قوم وي او یا د بل قوم. په هیڅ پلمه هم د انسان درناوی له منځه نه شي تللی. حقیقت دا دی چې هر انسان هماغه یوه خدای پیدا کړی دی. له دې امله ټول انسانان په یو ډول د درناوي وړ دي.

## ۰۶۷- په دښمن کې ملګری

په قرآن کریم کې ویل شوي چې که کوم څوک خپل دښمن درته واپسي نو په غبرګون کې تاسې هم دښمني مه ورسره کوئ بلکې ښه رویه ورسره کوئ. د دې یو طرفه برخورد پایله به دا وي چې دښمن به مو هم ملګری شي. د اسلام دا لارښوونه راته ښیي چې دښمني ابدي شی نه دی. حقیقت دا دی، چې په هر دښمن انسان کې یو ملګری انسان پټ وي. د خپلې یو طرفه رویې له لارې دا احتمال په حقیقت بدل کړئ، خپل دښمن په خپل ملګري بدل کړئ.

(c) ketabton.com: The Digital Library



په غبرګون کې ښکلې رویه د انسان وجدان راویښوي او د چا چې وجدان بیداره وي، هغه بل هېڅ روش هم نه شي زغملی مګر دا چې له دښمنۍ لاس واخلي او ستاسې ملګری شي.

## ۰٦٨- له نرمي نه بې برخې

د اسلام پیغمبر ﷺ وفرمایل: «څوک چې له نرمي بې برخې وي، هغه له هرې ښېګڼې بې برخې دی.» دا حدیث یو هر اړخیز اصول راته ښیي او هغه په خبرو اترو او اړیکو کې نرمي ده.



هغه انسان چې د نرمي طریقه خپله کړي، هغه به په هره مسئله کې او همېش بریالی وي، ځکه هېڅ څوک له دا ډول یوه سړي سره دښمني نه کوي. خو څوک چې په چارو کې له نورو سره نرمي نه کوي، د هغه به کار له ورانېدو سره ملګری وي، په دې چې هر سړی به له ده نه سر ټکوي. د مخالفینو او دښمنانو په منځ کې به راګیر وي. او د کور دننه او له کور

(c) ketabton.com: The Digital Library



نه بیرون دواړو ځایونو کې به له هسې مسایلو سره لاس او ګریوان وي.

## ۰۶۹- د ساده ګي اهمیت

د اسلام پیغمبر ﷺ وفرمایل: «ساده ګي د ایمان برخه ده.» ساده ګي د ایمان برخه ګڼل د ساده ګي ډېر لوړ اهمیت څرګندوي. ساده ګي د باهدفه انسان تګلاره ده. باهدفه انسان د تجمل او عشرت بار په اوږو نه شي وړلی چې په سهولتونو او عیاشیو کې دې یې سر ډوب وي او د خپل وخت او انرژي یوه برخه په همدې لارو کې ولګوي. د ساده ګي معنا ده، خپلې اړتیاوې یوازې تر لازمي شیانو پورې محدود ساتل، خپل ځان له نا اړینو شیانو سره نه عادت کول، خپل ځان د ارامتیا له شیانو لرې ساتل. ساده ګي په اصل کې ډېر غوره تدبیر دی. ساده ګي دا ممکنوي، چې انسان خپل ژوند په بشپړه توګه د خپل هدف لپاره وکاروي او د ژوند هیڅ برخه

(c) ketabton.com: The Digital Library



يې هم له هدف پرته په بل شي کې برباده نه شي.

د انسان د پرمختګ لپاره تر ټولو مهم شی دا دی چې د تفکر بهیر (thinking process) يې له خنډ او ځنډ پرته جریان ولري. ساده‌ګي په دې ذهني بهیر کې ډېر لوی مرستندوی دی. ساده‌ګي د انسان ذهن ته له نورو ټولو شیانو فراغت وربښي.

## ۰۷۰- د پاکوالي ارزښت



د اسلام پیغمبرﷺ وفرمایل: «پاکوالی د ایمان برخه ده.» له دې حدیث نه معلومېږي چې پاک اوسېدل او خپل چاپېریال پاک ساتل په اسلام کې څومره ډېر ارزښت لري.

اسلام د خپل حقیقت په اعتبار سره دا دی چې د بنده زړه او روح صفا شي. له ککړو فکرونو لاس واخلي او له پاکو فکرونو سره واوسي. خپل دروني وجود همداسې په بنو

(c) ketabton.com: The Digital Library



فکرونو سپېڅلې کړي لکه انسان چې په اوبو سره خپل بدن صفا کوي.

بنده چې خپل درون صفا کړي، نو په طبيعي ډول به غواړي چې بيرون يې هم صفا سوتره وي. دی به په خپل بدن او جامو هم ځانګړی پام ساتي. د خپل کور او خپل ماحول د صفا ساتلو هڅې به کوي. او پاکوالی به د داسې انسان د مزاج تلپاتې برخه وګرځي.



## ۰۷۱- د منځ لاره

د اسلام پيغمبرﷺ وفرمايل: «خير الامور اوسطها» ياني تر ټولو غوره طريقه د منځ طريقه ده. دا لارښوونه په نورو ټکو کې داسې بيانولی شو چې تر ټولو غوره لاره د منځ لاره ده.

په دنيا کې انسان د ګڼ شمېر خلکو په منځ کې ژوند تېروي. په دې حالت کې بهتره طريقه هغه ده چې انسان له

(c) ketabton.com: The Digital Library



کوم خنډ پرته خپله لاره ووهي او له چا سره يې نښته ونه شي. همدې لارې ته د منځ لاره ویل کیږي. د منځ لاره همېش د اعتدال لاره وي. د اعتدال لاره همېش عملي لاره وي. په دې لاره کې انسان له کوم خطر پرته وړاندې تللی شي. د اعتدال په لاره کې د داسې لوی تاوان اندېښنه نه وي چې د انسان ټول پلان دړې وشړېږي او بلاخره د مایوسي او ناهیلي په تغر پښې وغځوي.

## ۰۷۲- په عاجزي کې بلندي



د اسلام پیغمبر ﷺ وفرمایل: «چا چې عاجزي وکړه، رب به بلندي ور په برخه کړي.» دا د خدای ټاکلی قانون دی. د دې قانون مطابق، د عاجزي روش د انسان لپاره د پرمختګ لارې پرانیزي. خو د غرور روش انسان د پستی په خوا بیایي. په عاجزي کې دوه اړخیزه ګټه ده. عاجزي کوونکی دا ګټه کوي چې په زړه کې يې روحانیت راویښېږي، اعلی انساني صفات

(c) ketabton.com: The Digital Library



په کې راټوکيږي. د خدای فيضانونه وررسيږي. د حقيقت پسندي مزاج يې شخصيت ته لاره کوي. او دا وړتيا مومي چې شيانو ته په بې پرې انداز وگوري.

له چا سره چې په عاجزي برخورد وشي، هغه د خپل وجدان د اواز له مخې د عاجزي کوونکي د عظمت منلو ته مجبوريږي. د هغه په مقابل کې د سرکښۍ جذبه له لاسه ورکوي او مجبوريږي چې د عاجزي کوونکي اخلاقي برتري ومني او د ځان په مقابل کې هغه ته ډېره لوړه انساني درجه ورکړي.



عاجزي صرف يوه تگلاره ده. په دې کار کې په انسان باندې کوم لگښت نه راځي. په عاجزي باندې بنده کوم څه له لاسه نه ورکوي. خو د هيڅ په نه ورکولو سره هم بنده هر څه لاسته راوړي. که د عاجزي په خلاف روش دروغجنه لويي وي، نو د عاجزي مطابق روش ربښتينی انسانيت دی.

(c) ketabton.com: The Digital Library



## ۰۷۳- بې ځایه لګښت نه

په قرآن کریم کې اسراف (بې ځایه لګښت) منع شوی دی. یانې له واقعي اړتیاوو پرته لګښتونه کول. د اسلام پیغمبرﷺ وفرمایل: «ان من السرف أن تأکل کل ماشتهیت» یانې دا هم اسراف دی چې هر هغه څه وخورې چې ستا زړه یې غواړي.

که انسان خپله ګټه په واقعي اړتیاوو ولګوي، نو دا یې روا حق دی. خو که د خپل خواهش او خوند له مخې لګښتونه وکړي، نو هېڅ څوک هم د دې حق نه لري. که خدای چاته ډېر مال ورکړی وي، نو دا یې په دې خاطر نه دی ورکړی، چې یوازې یې په خپل ځان مصرف کړي. مال د خدای امانت دی او انسان ته پکار ده چې په هماغو ځایونو کې یې ولګوي چې خدای ورته ټاکلي دي. کوم بنده چې داسې ونه کړي، نو ګواکې د خدای په امانت کې یې ځان پوره نه دی ثابت کړی.

(c) ketabton.com: The Digital Library



## ۰۷۴- اجتماعي برکت

د اسلام پیغمبرﷺ وفرمایل: «د یوه سړي خوراک د دوو کسانو لپاره بس دی او د دوو خوراک د دریو کسانو لپاره بس دی.» په دې حدیث کې د ګډې اوسېدا او په اجتماعي ډول د کار کولو برکت ښودل شوی دی.

په دې حدیث کې د خوړو مثال سمبولیکه بڼه لري. حقیقت دا دی چې دا حدیث د ژوند په ټولو چارو پورې تعلق نیسي. که خلک له یو بل سره په ګډه کار وکړي او په ګډه راشه درشه وکړي، نو کم خلک به هم ډېر لوی، لوی کارونه وکړي. په کمه پانګه کې به هم ډېرو خلکو ته ګټه ورسېږي. له کمو وسایلو نه به هم د ډېرې ګټې ترلاسی ممکن شي. که هر انسان جلا جلا لګیا وي، نو په ډېره وړه دایره کې به یوازې خپل ځان ته ګټه ورسوي. خو که همدا کسان یو بل په خپل کار کې ورګډ کړي، نو په مجموعي توګه به ټولو ته له یو بل نه ګټه رسېږي.

(c) ketabton.com: The Digital Library



## ۰۷۵- د انصاف تقاضا

د اسلام پیغمبرﷺ یو ځل په مدینه کې له چانه پور واخیسته. یوه ورځ هغه سړی په خپل پور پسې راغی او د پور د ترلاسي لپاره یې ډېره سخته ژبه وکاروله. د اسلام د پیغمبر ملګرو غوښتل چې سړي ته د خپلې بې ادبي جزا ورکړي. خو پیغمبر علیه السلام له دې کاره راوګرځول او ویې ویل، حقداره د غږېدو لري.

دا له نورو سره د رعایت کولو درس دی. که یو سړی له کومې وجې په غوسه شي یا زشتې خبرې وکړي، نو اورېدونکی دې د رعایت برخورد ورسره وکړي. که یو انسان د بل سړي د زشتو خبرو اورېدو ته تیار نه وي، نو بیا دې له دغسې سړي سره د پور معاملې هم نه کوي. له پور اخیستو وروسته به په هر حال کې پور ورکوونکي دا ته حق ورکوو چې هغه چې په هر رنګ خپل احساسات څرګندوي، نو څرګندوي به یې. په دغسې یوه معامله کې باید پور

(c) ketabton.com: The Digital Library



اخيستونکی د زغم او تېرېدنې لمنه ټينګه کړي. دی داسې نه شي کولی چې پور ورکوونکي ته دې د زغم نصيحتونه پيل کړي.

## ۰۷۶- له حق نه زيات نه اخيستل

د اسلام پيغمبرﷺ وفرمايل: «که دوه کسان د ځمکې قضيه ماته راوړي. او په دې دواړو کې يو کس په چالاکي سره خپله قضيه وړاندې کړي او له دې امله ځمکه هغه ته ورکول شي، حال دا چې په حقيقت کې ځمکه د هغه نه وي، نو داسې ده لکه د اور ټوټه چې ورکول شوې وي.»

له دې ښکاري چې يو څه چې په رښتيا د سړي حق نه وي، نو که په هغه سودا کې په کوم چل ول له محکمې نه د خپلې خوښې پرېکړه ترلاسه کړي، بيا هم هغه شی د ده نه کيږي. هيڅ عدالتي پرېکړه حقيقت نه شي بدلولی.

(c) ketabton.com: The Digital Library



حقیقت دا دی چې په یوه شي ناروا ولکه په هر حال کې بده ده. د محکمې پرېکړه یوه ناروا نه شي روا کولی. که د انسان وجدان وایي چې پلانکی شی زما نه دی، نو په دې حالت کې د دې لپاره سمه لاره دا ده چې هغه شی خپل حقدار ته وسپاري، نه دا چې د غلطو تدبیرونو له لارې په ناروا توګه د نورو په شیانو ګېډه واچوي. وجدان تر ټولو لویه محکمه ده. تر ټولو لویه پرېکړه هغه ده چې د وجدان له محکمې نه صادره شوې وي.



## ۰۷۷- د نورو لپاره هم د ځان په څېر

د اسلام پیغمبرﷺ وفرمایل: «مومن هغه دی چې نورو ته هم هغه څه خوښ کړي چې د ځان لپاره یې خوښوي.» دا د ټولنیزو اخلاق ډېر هر اړخیز اصول دی. هر سړی په دې پوهېږي چې کومه رویه یې خوښه ده او کومه رویه ناخوښه. همداسې دې له نورو سره هم وکړي. له نورو سره دې هم

(c) ketabton.com: The Digital Library



هماغه رویه وکړي، چې دی یې د ځان لپاره غواړي او له نورو سره دې له هغې رویې ډډه وکړي، چې د ځان لپاره یې نه خوښوي.

د ټولنیزو اخلاقو دا اصول دومره ساده او فطري دی، چې هره ښځه او هر نر پرې پوهېږي. اړتیا یوازې دا ده چې هر انسان په دې برخه کې حساس شي. کوم حساسیت چې دی د ځان لپاره ښیي، هماغه حساسیت دې د نورو په تړاو هم ښکاره کړي. که خلک دا اخلاقي اصول ورتېینګ کړي، نو ټوله جامعه به د خیر او سولې جامعه وګرځي.



## ۰۷۸- اقتصادي خپلواکي

د اسلام پیغمبرﷺ وفرمایل: «خدای چې د یو چا لپاره د روزي یوه وسیله برابره کړه، نو بیا دې پخپله له هغې نه لاس نه اخلي، مګر دا چې له مجبورۍ نه یې پرېښودو ته اړ شي.» د اسلام د لارښوونې مطابق، رزق په خدای پورې تړلی دی. د

(c) ketabton.com: The Digital Library



همدې لپاره کله چې انسان ته د رزق يو سبب په لاس ورشي، نو د خدای له شکر سره دې په هماغه سبب پورې کلک پاتې شي. او که يې له کوم واقعي لامل پرته پرېږدي، نو د خدای له مرستې نه به يې ځان بې برخې کړی وي.

په اقتصادي ژوند کې د بريا راز استقامت دی. په دې حديث کې د استقامت او خپلواکي لارښوونه شوې ده. په اقتصادي ژوند کې بريا همېش د اوږدې مودې لپاره له خواريو وروسته ترلاسه کېږي. انسان ته پکار ده چې د حال په ځای اينده په نظر کې ولري. په دې ډول په بنده کې استقامت پيدا کېږي او ارومرو به د بريا تر سرحده رسېږي. دا حديث گواکې دا خبره رازده کوي، چې د اقتصادي فعاليتونو لپاره په ځان کې د اينده بيني مزاج وروزئ. يوازې د حال په ليدو حوصله له لاسه مه ورکوئ.

(c) ketabton.com: The Digital Library



## ۰۷۹- رزق د خدای له لوري

په قرآن کریم کې ویل شوي چې د ځمکې په سر چې څومره ساکښ دي، د ټولو روزي د خدای په غاړه ده. د اسلام پیغمبرﷺ وفرمایل: «خدای چې د سړي او ښځې لپاره کومه روزي لیکلې ده، هغه ترې هیڅ څوک نه شي ګرځولی، نه یې څوک کمولی شي، نه یې زیاتولی شي.» دا اعلان هر سړي او ښځې ته د داسې روزي ډاډ ورکوي، چې هیڅ ترورږونکی یې نشته. د چا زړه ته چې دا خبره لاره وکړي، نو هغه به دوه ګټې وکړي. له یوې خوا به دا باور ترلاسه کړي، چې هر څه چې وررسیږي، هغه به په هر حال کې وررسیږي او د دې عقیدې له مخې به په دې اعتماد سره هلې ځلې کوي، چې زما هڅې ارومرو نتیجه ورکوي. هیڅ څوک هم دومره په زور کې نه دي، چې زما او زما د رزق ترمنځ خنډ جوړ کړي. رزق زما یو داسې حق دی چې پخپله د دې دنیا څښتن زما لپاره لیکلی دی. بیا څوک دی چې دا لیکلی تقدیر

(c) ketabton.com: The Digital Library



ړنګ کړي.

دا عقيده د انسان له زړه نه د مايوسي احساس رژوي. او ان د مسايلو په هجوم کې هم دا خبره کولی شي، چې يو څوک له مانه زما دنده اخيستلی شي، خو هيڅ څوک دومره زورور نه دی، چې زما تقدير رانه واخلي.

One can take away my job. But no one has the power to take away my destiny.



## ۰۸۰- قناعت

د اسلام پيغمبرﷺ وفرمايل: «هغه کس بريالی شو، چې خدای ورته د اړتيا په اندازه روزي ورکړه او ده په دې روزي قناعت وکړ.» له دې ښکاري چې د بريا راز په شتو باندې قناعت کول دي، نه دا چې په نشت پسې د غم په تغره کېنو. په دنيا کې چې بنده هر کله د سمو اصولو له مخې د ګټې وټې هڅه وکړي، نو ارومرو دومره پيسې لاسته راوړي، چې د

(c) ketabton.com: The Digital Library



خپلو اړتیاوو لپاره یې بس شي. که انسان په شتو باندې راضي شي، نو د دې ګټه بنده د ذهني سکون په صورت کې ترلاسه کوي. خو سکون همېشه په قناعت کې وي، او د قناعت معنا ده، په شتو باندې خوشاله کېدل.

خو هغه شخص چې شتو ته په کمه سترګه ګوري او په نشتو پسې منډې وهي، هغه به هېڅ کله مطمئن نه شي. په دې چې په دنیا کې د شیانو هېڅ حد نشته. انسان چې هر څومره شیان هم ځان ته جمع کړي، بیا به هم ځینې شیان پاتې وي، چې دا حرص به ورکوي، چې زه باید دا شیان هم لاسته راوړم. په دې سره انسان تل د لا ډېرو په حرص کې سرګردانه وي. او همدغه ډول نارامه ژوند به تېروي، تر دې چې په همدې حال کې یې سترګې پټې شي.



## ۰۸۱- سوال نه کول

د اسلام پیغمبر وفرمایل: «تاسې له چا سوال مه کوئ. په

(c) ketabton.com: The Digital Library



دې چې بر لاس تر ښکتني لاس نه ډېر غوره دی.» دا د غوره انسانيت لاربښوونه ده. غوره انسانيت دا دی، چې بنده په خپل ځان تکيه وکړي او له نورو څه ونه وغواړي.

غوښتل ساده خبره نه ده، د اخلاقي لوېدا نښه دی. څوک يې چې له نورو غواړي، ګواکې هغه په اسانه روزي ژوند کول غواړي. داسې انسان به د خيرات غوښتلو بيه دا پرې کوي، چې خپل استعداد ته به رشد ورنه شي کړای. د ده په شخصيت کې پټ ځواکونه به همداسې تر ايرو لاندې پاتې شي. د زيار او زحمت جذبه به يې سړه شي. او په هغه کمزوري به اخته شي، چې تن آساني يې بولي. د ژوند سمه طريقه دا ده، چې انسان په خپل ځان بروسه وکړي. خپل ځان له زيار او خوارۍ سره عادت کړي. په خپلو پښو د درېدو هڅه وکړي. او له ځانه نورو ته ورکوونکی جوړ کړي، نه له نورو اخيستونکی.

(c) ketabton.com: The Digital Library



## ۰۸۲- د تجارت لویه برخه

د اسلام پیغمبرﷺ وفرمایل: «تسعة اعشار الرزق فی التجارة» یانې د رزق نوې سلنه برخه په تجارت کې ده.» په دې حدیث کې د فطرت یو قانون بیان شوی دی. هغه قانون دا دی چې د خدای د تخلیقي پلان له مخې، په تجارت کې د رزق تر ټولو لویه برخه ایښودل شوې ده.

دا حدیث د هر انسان لپاره د امید خزانه ده. که انسان ته دنده ورپیدا نه شي یا په میراث کې خپل حقونه ور ونه رسېږي او یا له نورو لارو د ګټې وټې هیله ورسره نه وي، نو پکار ده چې تجارت پیل کړي. د تجارت له لارې به دی دومره ډېره شتمني لاسته راوړي، چې له بلې هیڅ لارې به یې هم نه شوی لاسته راوړلی.

(c) ketabton.com: The Digital Library



## ۰۸۳- د زحمت مړی

د اسلام پيغمبرﷺ وفرمايل: «الله تعالی له خپل هغه بنده سره مينه کوي چې د زحمت له لارې خپله مړی وګټي.» دا حديث د زحمت د مړی ارزښت راته ښيي. په زحمت روزي ګټل ساده خبره نه ده. حقيقت دا دی چې د زحمت روزي د ټولو انساني ښېګڼو سرچينه ده. د زحمت مړی تر ټولو ډېره روا مړی ده. په زحمت سره خپله روزي ګټل انسان حقيقت ليدونی روزي. د زحمت مړی په انسان کې د ساده‌ګي مزاج پيدا کوي. د زحمت روزي له انسان سره د نورو په درک کولو کې مرسته کوي. د زحمت مړی انسان له تن آساني نه ژغوري. د زحمت مړی د شخصيت د تکميل يوه مهمه لاره ده. که مجبوري نه وي، نو بيا هم انسان ته بويه چې د خپل ژوند لپاره د زحمت لاره غوره کړي او په هر حال کې خپل ځان له ارام طلبي وساتي.

(c) ketabton.com: The Digital Library



## ۰۸۴- په ژبې بندیز

د اسلام پیغمبرﷺ وفرمایل: «د انسان د دروغجنتیا لپاره همدا بسنه کوي چې هره اورېدلې خبره تر نورو ورسوي.» دا حدیث د وینا د ادابو یو ډېر مهم اصول راته بیانوي. هغه دا چې انسان ته پکار ده چې بې سوچه او بې فکره ونه غږېږي.

په اجتماعي ژوند کې بیا بیا ځلې داسې کېږي چې د نورو په خلاف مو ډېرې زیاتې خبرې تر غوږونو رارسېږي. تجربو ښودلې ده چې اورېدلې خبره چې بیا بیا ځلې کېږي، نو له یوې خبرې نه بیخي بل شی جوړ شي. تر دې چې خبره دومره هم بدلېدلی شي، چې یوه رښتیا خبره په دروغو واوړي. د همدې لپاره یوازې د اورېدو له مخې باید یوه خبره تکرار نه کړو. د ښې خبرې په تکرار او خپرولو کې کومه بدي نشته، خو که خبره بده وي، نو تر هغو پورې یې باید وړاندې ونه رسوو، چې د څېړنې په مټ مو ټوله خبره نه وي معلومه کړې.

(c) ketabton.com: The Digital Library



## ۰۸۵- د غیبت کفاره

د اسلام پیغمبر ﷺ وفرمایل: «د غیبت کفاره دا ده چې د هغه چا لپاره د مغفرت دعا وغواړئ چې تاسو يې غيبت کړی دی.» غیبت دا دی چې د يو چا په نشتوالي کې د هغه بدي وويل شي.

غیبت د بدخواهي عمل دی. له بنده نه چې کله د غیبت غلطي وشي، نو پکار ده چې د چا غیبت يې کړی دی، د هغه لپاره د خیرخواهي يو کار وکړي. او د خیر غوښتني يوه لاره دا ده چې د هغه سړي په حق کې ښې دعاوې وشي. دا به د غیبت کوونکي له لوري په بدخواهي پسې د خیرخواهي معامله وي او ګناهونه به يې ور ورژوي.

## ۰۸۶- جامع نصیحت

د اسلام پیغمبر ﷺ خپل يوه ملګري ته وفرمایل: «ایا تاته

(c) ketabton.com: The Digital Library



جامع نصیحت وکړم؟ ویې ویل هو، اې د الله رسوله! رسول الله ﷺ وفرمایل، د خپلې ژبې ساتنه کوه.»

د ژبې د ساتنې معنا دا ده چې انسان چې څه وایي، نو په غور او فکر یې ووایي. داسې خبره دې نه کوي، چې د نورو زړونه پرې ازارېږي. له داسې خبرې چې په ټولنه کې بدي او فساد خپروي، په هر حال کې ځان وساتي. دا یو حقیقت دی چې زیاتره ټولنیزې بدۍ د ژبې له امله خورېږي. ژبه په خپل واک کې ساتل د ټولنیزو بدیو دروازه تړي او په ژبه واک نه لرل د ټولنیزو بدیو دروازه پرانیزي. دا د انسان سنجیدګي ښیي، چې بنده خپله ژبه همېش په ډېر پام سره وکاروي. د ژبې غلط استعمال دا دی چې سړی د نورو بدۍ بیانې کړي، له نورو سره زشتې خبرې وکړي، د نورو عیبونه ولټوي او په خلکو کې یې افشا کړي.

(c) ketabton.com: The Digital Library



## ۰۸۷- صبر او اعراض

د اسلام یوه لاربښوونه صبر ده. په قرآن کریم کې بیا بیا ځلې په صبر تاکید شوی دی. یو ځای یې فرمایلي چې «ولربک فاصبر» یانې د خپل رب لپاره صبر وکړه. همدا راز فرمایي چې صبر وکړئ او ستاسې صبر د الله لپاره دی. انسان چې کله صبر کوي، نو په ظاهر کې یې دا صبر د یوه انسان په مقابل کې وي، خو د خپل حقیقت په اعتبار دغه صبر د خدای له تخلیقي پلان سره د مطابقت کولو په معنا وي.

خدای د دې دنیا نظام داسې هستولی دی چې دلته هر فرد ازادي ولري. د هر چا لپاره د سیالۍ ماحول پرانیستی وي. په دې اساس بیا بیا داسې پېښېږي چې یوه ته له بل نه شکایت پیدا کېږي. د یوه له لاسه بل ته زیان رسېږي. په داسې حالت کې په ناخوښو پېښو صبر کول د خدای په تخلیقي طرحې رضا کېدل دي. د صبر د همدې اهمیت له مخې خدای صبر د خپل ځان لپاره صبر کول یاد کړي دي.

(c) ketabton.com: The Digital Library



په قرآن کریم کې اعلان شوی دی چې هغه څوک چې صبر وکړي، بې حسابه اجر او انعام به ترلاسه کوي.

## ۰۸۸- یو طرفه زغم

د اسلام پیغمبرﷺ وفرمایل: «څوک چې په تاسې ظلم وکړي، تاسو ورته ببښنه وکړئ.» دا خورا د حکمت لارښوونه ده. ظلم د ظلم په ببلو سره ختمېږي. د ظلم په خلاف ځوابي اقدام کول هیڅ کله ظلم نه ختموي.



د اسلام د پیغمبرﷺ دا وینا په اصل کې د پایله‌محور عمل (result oriented action) لارښوونه ده. که یو شخص د ظلم اقدام وکړي، نو مظلوم باید تر ټولو دمخه دا فکر وکړي، چې د ده اقدام باید داسې وي چې مظلومیت یې ورسره ختم شي، نه دا چې مظلومیت یې نور هم زیات شي. هرګوره چې یو مظلوم په دې ډول فکر وکړي، نو پوه به شي، چې ظالم ته ببښنه کول تر ټولو لوی انتقام دی. د ظالم

(c) ketabton.com: The Digital Library



هېرول د ظلم د ختمولو تر ټولو اسانه تدبير دی. ظالم معاف کول د مجبورۍ خبره نه ده، يو ډېر اعلی اخلاقي اصول دی. بنده چې کله ظالم ته ببښنه کوي، نو بايد د خپلواکې ارادې له مخې يې وبښي. د مجبورۍ له مخې يې معافول هم بې ارزښته دي او نه معافول يې هم بې ارزښته.

## ۰۸۹- د مخ گرځولو تګلاره

په قرآن کريم کې ويل شوي چې له جاهلانو او ناپوهانو مخ وګرځوئ. په دې دنيا کې د بريالي ژوند لپاره دا خورا مهم اصول دی. دا حقيقت دی چې د نباتاتو په دنيا کې چې له ګلونو سره ازغي هم شته، همداسې په بشري دنيا کې د پوهانو په خوا کې په ناپوهو خلکو هم هر ځای ډک دی. هغسې چې د نباتاتو په دنيا کې بنده له ازغيو سره له نښتې پرته ګلونه ورشکوي، په همدې ډول به په انساني دنيا کې هم بنده له ناپوهو خلکو سره له ښکېلېدا پرته د خپل ژوند

(c) ketabton.com: The Digital Library



سفر لنډوي.

له ناپوهو خلکو سره په نښتې هیڅ څوک هم نه شي بریالی کېدلی. د همدې لپاره هوښیاري دا ده چې کله انسان له کوم نادانه سره مخ شي، نو له پامه دې یې وغورځوي او خپله لاره دې وهي. د هیچا په وس کې نه ده چې د دنیا ټول احمقان ختم کړي. البته دا د هر چا په وس کې ده چې له احمقانو سره له نښتې پرته د خپل ژوند جوړولو ته دوام ورکړي. له احمقانو نه په مخ ګرځولو کې دا اندېښنه نشته چې هغوی به لا زوړر به شي. اعراض یا مخ ګرځول اور مړ کوي، لمبې یې لا ډېرې نه وزیاتوي.



## ۰۹۰- په صبر کې بریا

د اسلام پیغمبرﷺ وفرمایل: «پوه شئ چې بریا له صبر سره ده.» په دې حدیث کې د صبر بې پناه ارزښت ښودل شوی دی. د دې حدیث مطابق، صبر د ټولو پرمختګونو زینه

(c) ketabton.com: The Digital Library



ده. په دې دنیا کې صبر کوونکی هیڅ کله ماتې نه شي خوړلی. اصلي نکته دا ده چې په دې دنیا کې هر انسان له لوړو، ژورو سره مخ کېږي. هر انسان بیا بیا ځلې له ناخوښو حالاتو تېرېږي. په داسې حالت کې زیاتره داسې کېږي چې انسان خپل همت له لاسه ورکوي. خپل ځان ماته خوړلی احساسوي. خو دا سمه خبره نه ده. حقیقت دا دی چې په دنیا کې د بریا امکانات دومره زیات دي چې هیڅ کله پای نه مومي. له یوې ناکامي وروسته تل بله کامیابي سترګګونه وهي. که انسان له لومړنۍ ماتې وروسته د صبر لمنه ټینګه کړي، نو ډېر ژر به پوه شي چې یوه بله بریا ورته ډېر نیږدې سترګې په لار ده.



## ۰۹۱- په واړه شر قناعت

د اسلام د پیغمبرﷺ یوه صحابي عمیر ابن حبیب وویل «ځوک چې د یوه احمق کوچنی شر ونه زغمي، هغه به د

(c) ketabton.com: The Digital Library



احمق لوی شر ګالي.»

هغسې چې په دې دنيا کې هوښيار خلک شته، همداسې دلته ناپوه خلک هم شته. دا ناپوه خلک د خپلې ناپوهۍ له لاسه نورو ته يو نه يو تکليف او کړاو ور رسوي. دا کړاو په پيل کې کوچنی کړاو وي. د دانشمندي تقاضا دا ده چې دا کوچنی تکليف وزغمل شي. څوک چې پر کوچني تکليف له ناپوه سره ښکر په ښکر شي، نو ناپوه ضد اخلي او نور ډېر کړاو هم رسوي. په دې حالت کې غوره خبره دا ده چې کوچنی تکليف وزغمو، تر څو له لوی کړاو سره مخ نه شو.



## ۰۹۲- د زغم په مټ دفاع

مشهور صحابي عبدالله بن عباس وفرمايل: «د احمق د حماقت دفاع د زغم په وسيله وکړئ.» د صحابي د دې وينا مطابق، د دفاع يوه مناسبه طريقه دا هم ده چې د ځوابي دفاع لاره خپله نه شي.

(c) ketabton.com: The Digital Library



په دنیا کې بیا بیا ځلې داسې کېږي چې انسان له احمقانو سره مخ کېږي. د داسې احمقانو له شر نه د ځان ساتنې تر ټولو مؤثره لاره د تحمل لاره ده. د تحمل لاره د احمقانه کړنې په ابتدايي مرحله کې شنډوي. خو که د ناپوهانو په مقابل کې د غبرگون لاره ونیول شي، نو د هغوی بدي نوره هم زیاتېږي، تر دې چې له وس او توان نه به مو هم ووځي.



## ۰۹۳- غوسه نه

یو سړی د اسلام پیغمبر ته راغی. ویې ویل، اې د خدای رسوله! ماته یو داسې نصیحت وکړئ، چې زما ټول ژوند ورسره سم شي. نبي کریمﷺ وفرمایل: «غوسه مه کوه.» دا بې له شکه ډېر جامع نصیحت دی. دا یو داسې اصول دی چې که انسان یې خپل کړي، نو د ژوند ټولې چارې به یې سیخې شي.

(c) ketabton.com: The Digital Library



اصلي خبره دا ده چې انسان تل په ټولنه کې اوسي. او وخت په وخت له داسې تجربو سره مخ کېږي چې انسان پاروي او غوسه کوي یې. او کله چې انسان په غوسه شي، نو تر هغه وروسته یې په سینه کې د نفرت او انتقام اور لمبور کېږي. نو بنده د غوسه پاروونکي په خلاف یو انتقامي ګام اخلي او بیا هر انتقام یوه بل انتقام ته پوکی ورکوي. په دې ډول په انتقام کې د انتقام یوه سلسله شروع کېږي چې له تباهي پرته هېڅ ځای ته هم نه رسېږي.



په داسې حالت کې د خپل ژوند سفر په بریا سره لنډول د دې تقاضا کوي چې بنده د غوسې په څېر احساساتو باندې پښه کېږدي او منفي حالات هم په مثبت انداز ځواب کړي.

## ۰۹۴- د غوسې حل لاره

د اسلام پیغمبر ﷺ وفرمایل: «کله چې انسان غوسه شي، نو که ولاړ وي، ناسته دې وکړي. که غږېږي، نو غلی دې

(c) ketabton.com: The Digital Library



شي.» د دې معنا دا ده چې انسان دې خپل حالت بدل کړي. د حالت دغه تبدیلي به يې د غوسې د ختمېدو لامل شي.

غوسه یو اور دی چې په یوه ناخوښه خبره په انسان کې شغلې نیسي. غوسه انسان د تخريبي روش په خوا بيايي. انسان په تاوان اړوي. په داسې حالت کې د هوښیارۍ نښه دا ده چې د غوسې په راتلو سره دې سمدستي د هغې د سړولو تدبير وګوري. د تدبير په مټ انسان خپله غوسه په څو دقیقو کې له منځه وړلی شي. خو که په خپل حال پرېښودل شي، نو انسان ته داسې تاوانونه اړوي، چې جبران به يې بيا هيڅ کله ممکن نه وي.



غوسه کېدل یوه طبيعي خبره ده. پخپله غوسه کېدل کومه بده خبره نه ده، بده خبره دا ده چې انسان په خپله غوسه کنټرول ونه لري. په غوسې نه برلاسي له خپله لاسه د ماتې خوړلو په معنا ده او له خپله لاسه ماتې خوړل بې له شکه تر ټولو بده ماتې ده.

(c) ketabton.com: The Digital Library



## ۰۹۵- له شيطان نه پناه وغواړئ

د اسلام پيغمبر ﷺ وفرمايل: «شيطان ستاسې دښمن دی. نو هرکله چې تاسې داسې محسوسوئ، چې شيطان مو غولوي، نو ووايئ چې اللّٰهُمَّ اني اعوذبک من همزات الشيطان ياني اې خدايه! زه د شيطان له وسوسو نه تاته پناه دروړم.»

شيطان د انسان دښمن دی. شيطان غواړي چې انسان له سمې لارې بې لارې کړي. انسان ته ډول ډول وسواسونه وراچوي او له حقيقت نه يې د اړولو هڅې کوي. شيطان په سترګو نه ښکاري. په پټه په انسان بريد کوي او انسان د دې شيطاني بريد پر وړاندې بالکل بې وسه دی. له دې بريد نه د ژغور يوازې يوه لاره ده او هغه له خدای نه مرسته غوښتل دي. د خدای وعده ده چې هرکله يو انسان د شيطان پر وړاندې خدای ته پناه يوسي نو خدای ارومرو پناه ورکوي. همدا د دې ستونزې يوازنۍ حل لاره ده.

(c) ketabton.com: The Digital Library



## ۰۹۶- زورور ځوک

د اسلام پیغمبرﷺ وفرمایل: «زورور هغه ځوک نه دی، چې په غیرتیونه کې خلک لاندې کوي، بلکې په متهو کې زورور هغه ځوک دی، چې د غوسې په وخت کې خپل ځان راتم کړي.» دا بې له شکه د بنده د زورورتیا تر ټولو غوره معیار دی. په بدني مبارزه کې یو ځوک لاندې کول کومه لویه کارنامه نه ده، دا ډول لویه کارنامه خو یو حیوان هم کولی شي. د یوه انسان د زورورتیا تر ټولو لویه نښه دا ده چې کله غوسه ورشي، نو په خپل ځان بشپړ واک ولري. له غوسې سره، سره د انسانیت له دایرې نه پښه ونه باسي، په خپلې غوسې برلاسی اوسي، نه دا چې غوسه پر ده برلاسې اوسي.

## ۰۹۷- په سختي کې اساني

په قرآن کریم کې د فطرت له بیان شویو قوانینو څخه یو

(c) ketabton.com: The Digital Library



قانون دا هم دی چې په دې دنیا کې له مشکلاتو سره اساني هم ملګرې ده (الانشراح) یانې له مشکلاتو وروسته نه، بلکې په خپله له مشکلاتو سره په خوا کې د اساني اړخ هم شامل وي. دا د فطرت ابدي قانون دی، هېڅ کله نه بدلېږي.

اصلي نکته دا ده چې په دنیا کې د مشکلاتو په پرتله د امکاناتو اندازه ډېره زیاته ده. که یو مشکل ایجاد شي او یو ځل کوم تاوان ورسېږي، نو له انسان سره ناهیلي نه ښایي. بلکې پکار ده چې خپله فکري قوه او وړتیا په کار واچوي. بنده چې فکر وکړي، نو پوه به شي چې په همدې وخت او همدې ځای کې د ده لپاره ګڼ نور امکانات هم پراته دي. د یوه فرصت په بایللو سره دی دوهم فرصت هم موندلی شي چې له دې فرصت نه په استفادې سره وړاندې لاره ووهي. په اوسنۍ دنیا کې د ژوند بهترین فورمول دا دی، چې ستونزې له پامه وغورځوئ او له فرصتونو استفاده وکړئ. هڅه وکړئ چې مخالف حالات د خپل ځان لپاره په موافقو

(c) ketabton.com: The Digital Library



حالاتو بدل کړئ. خپله ناکامي د لا ښو طرحو له لارې په بریا تبدیله کړئ.

د خدای په دې دنیا کې دا ممکن دی چې انسان د خپل عقل په مټ منفي په مثبت بدل کړي. دا امکان د هر هغه چا لپاره پروت دی چې همت ونه بایلي او د ناهیلۍ په وختونو کې هم هیله من پاتې شي.

## ۰۹۸- د اساني لارې انتخاب



د اسلام د پیغمبرﷺ میرمنه عایشه د پیغمبرﷺ د عمومي تګلارې په هکله وایي چې د نبي کریمﷺ په مخکې به چې دوه کارونه راغلل نو همېش به یې مشکل انتخاب پرېښوده او اسانه انتخاب به یې ورنیوه.

د دې معنا دا ده چې کله به پیغمبرﷺ د تشدد د لارې او سوله ییزې لارې په منځ کې یوه لاره غوره کوله، نو د تشدد

(c) ketabton.com: The Digital Library



لاره به يې پرېښودله او سوله ييزه لاره به يې غوره کوله. دغه راز چې کله به يې د نښتې او تېرېدنې په منځ کې يوه لاره غوره کوله، نو تل به يې د نښتې لاره پرېښودله او د تېرېدنې طريقه به يې خپلوله. دغه راز د جګړې او سولې ترمنځ به چې د يوه انتخاب موکه وه، نو همېش به يې جنګ پرېښوده او سولې ته به يې غېږه ورکوله.

همدا حکمت دی. د دې حکمت ګټه دا ده چې انسان له لا زيات وراني وژغورل شي او خپلې چارې په برياليتوب سره مخکې يوسي. په هره مسئله کې د دواړو تګلارو امکان وي. خو هوښياري هماغه ده چې ښلګه يې زموږ د پيغمبر عليه السلام په ژوند کې ليدل کېږي.



## ۰۹۹- په ناخوښو کې خير

په قرآن کريم کې يو ځای د نصيحت په ژبه ويل شوي دي چې تاسې به يو شی بد ګڼئ او هغه به ستاسې لپاره ښه

(c) ketabton.com: The Digital Library



وي. او و دې شي چې تاسې به يو شی خوښوئ او هغه به ستاسې لپاره بد وي.

دا ايت د ژوند په ټولو چارو پورې تعلق نيسي. خلک عموما شيانو ته له ظاهري اړخه ګوري. هغوی د ظاهري رانښکونتيا له مخې يو شی خوښوي. او هغه شی چې ظاهر يې دلکش نه وي، نو د خوښې وړ يې نه ګرځي او مخ ترې اړوي. خو د خپلې حقيقي پايلې له مخې دا طريقه درسته نه ده.

زياتره وختونه داسې کېږي چې يو شی په سترګو ښه نه ښکاري، خو د اصل حقيقت په اعتبار د انسان ګټه په هماغه شي کې وي. خو يو شی بيا په سترګو ډېر ښه ايسي، خو د اصل حقيقت په اعتبار هماغه شی انسان په بدو پايلو اړوي. په داسې حالت کې بنده ته پکار ده چې د ظاهر له مخې د شيانو په هکله پرېکړه ونه کړي بلکې د ژورو حقايقو له مخې شيانو ته وګوري او د هماغه له مخې پرېکړه وکړي.

(c) ketabton.com: The Digital Library



## ۱۰۰- یوه دعا

د پیغمبر عليه السلام یوه دعا په دې ټکو کې راغلې ده «اللّٰهُمَّ ارنا الحق حقا و ارزقنا اتباعه وارنا الباطل باطلا وارزقنا اجتنابه وارنا الاشیاء کما هی» یانې اې خدایه! ماته حق د حق په توګه راښکاره کړه او د حق د متابعت توفیق راکړه او باطل د باطل په توګه راښکاره کړه او له باطل نه د ځان ساتنې توفیق راکړه او شیان هغسې راته وښایه څرنګه چې دي.



په اوسنی دنیا کې تر ټولو ډېر اړین شی دا دی چې انسان عیني یا موضوعي فکرطرز ولري. په دې حدیث کې د همدې فکرطرز لپاره د دعا لارښوونه شوې ده. په دنیا کې انسان په داسې حالاتو کې اوسي چې زیاتره وختونه حق د باطل په شکل کېویني او باطل د حق په شکل کې. په دې دعا کې بنده خپل رب ته لاسونه لپه کړي دي چې له دې بې لارۍ نه یې وساتي او ده ته هغه لید ورپېرزو کړي چې شیان په خپل اصلي حالت (as it is) کې پرې ولیدلی شي. له سم

(c) ketabton.com: The Digital Library



فکر نه سم عمل زيږي او سم عمل همېش انسان د بريا په لوري رهبري کوي.

د دې پيغمبرانه دعا مطابق، هر انسان له دې فکري مسئلې سره لاس و گرېوان دی چې حق د حق په بڼه ونه شي ليدلی او باطل د باطل په بڼه. دا ستونزه د شرطي سازي له امله پيدا کېږي. هر انسان له پيدايښت وروسته په يوه چاپېريال کې رالويېږي او په ابتدايي کلونو کې د خپلې ذهني خامي له امله د چاپېريال اغېز په کې ريښې کوي. همدې ته شرطي سازي ويل کېږي. پوخ عمر ته له رسېدو وروسته هر انسان بايد دا کار وکړي چې خپل شعور متحرک کړي او د خپلې شرطي کېدا طلسم ماته کړي او غير شرطي سازي يې وکړي. خپل ځان د واقعيت مطابق د فکر کولو درجې ته ورسوي. د علم تر ټولو لويه گټه دا ده چې انسان باشعوره کوي او د خپل ځان غيرشرطي سازي ته يې تياروي. پاسنۍ دعا د همدې غيرشرطي سازي په بهير کې د ايمان عنصر

(c) ketabton.com: The Digital Library



ورزیاتوي.

پای

تبوک، سعودي عربستان

۱۵ فبروري، ۲۰۲۵

**Get more e-books from www.ketabton.com**
**Ketabton.com: The Digital Library**